پانګوال سیستم داتجارې په درشل کې

د سرمقالې پرځای

د امریکا تجارتي خپرونه Porbes Global لیکي چې د مایکروسافټ د کمپنۍ مالك بل ګیټس تیر کال د سلو بلیونو ډالرو په درلودلو سره کولای شول چې د اسرائیلو دولت غوندې په بیه رانیسي خو سږ کال یې په یوه سودا کې تاوان وکړ دده دغه تاوان د الجزایر د دولت د ټولو ملي عوایدو تر مجموعی رقم اضافه نه وو.

خو بیا هم دي کولای شي چې د افریقا ټول براعظم په بیه رانیسي ځکه چې د افریقا براعظم تر اسرائیلو لږ څه غریب دی.

تر بل ګیټس وروسته د مایکرو سافټ د کمپنۍ رقیب پانګه وال لیري ډیلي سن د دنیا تر ټولو لوی سرمایه دار دی.

خپرونه لیکي چې د لیري ډیلي سن د پانګې مجموعی اندازه نه ده معلومه خو اټکل کیږي چې نوموړي به څه د پاسه ۶۰ بلیونه ډالره نغده پانګه ولري د جایداد حساب خو بیې لاځه کوي چې نه سنجول کیږي.

ویل کیږي چې دده پانګه د استونیا یستونیا ،تاجکستان، ارمنیا اذربایجان او قازقستان تر مجموعی ملي عوایدو زیاته ده.

چې له دي ټولې پانګې سره سره نوموړي ونه شوای کړای چې روسي پرمختللي میلك الوتکه د لوبې او ساتیري لپاره رانیسي ځکه چې د امریکا حکومت اجازه ورنه کړه.

ددنیا یوبل لوی پانګوال د مایکرو سافټ کمپنۍ اجرائی مشر پال ګاډنر ایلن دي دده نغدي پانګه تر ۴۰ بلیونه ډالرو اوښتي ده.

دغه پانګه د بایاماز، برو مودا بادوز او کیوبا د ممالکو تر مجموعی ملي عوایدو زیاته ده. ترده وروسته د مایکروچپ د کمپنۍ مالك ارل مور ددنیا لوی سرمایه دار دی ویل کیږي چې دده د نغدي پانګې اندازه تر ۳۵ بلیونه ډالرو اوړي دغه پانګه وال هم کولای شي ددنیا څو مملکتونه په نغدو ډالرو را نیسي.

خپرونه لیکي چې ددغو پانګوالو پانګه که سره راټوله شي نو تر ۲۰۰ بلیونه ډالرو اوړي او که دا پنځه واړه سره یو ځای شي نو د ډنمارک په شمول د اروپا ځینې بډای هیوادونه را نیولای شي

دلته ددنیا د یوي بډایی کورنۍ یادول هم ضروري دي دغه کورنۍ د والټن کورنۍ ده چې د پرچون د دوکانونو یوه اوږده سلسله لري .

څرنګه چې دغه کورنۍ د خپلو شتو جایدادونو او نغدو روپو پنځه تنه ونډه لرونکي لري نو هر یو یې د ۲۰ بیلیونو ډالرو په اندازه ځانته ونډه لري .

که دغه پنځه شریکان سره یو ځای شي نو پانګه یې تر بل کیټس هم زیاټیرې دغه کورنۍ د خپلو پنځو تنو شریکانو په پانګه اسرائیل ، مصر ، نکاراګوا ، ارتیریا او صومالیه هم را نیولای شي .

د تیر یوه کال په اوږدو کې د میلونرانو او بلیونرانو په شمیر کې د حیرانتیا وړ زیاتوب راغلی دی دغه زیاتوب د اسهامو په مارکیټ کې ذ اسهامو او ونډه د بیې د ۳۷ فیصده لوړیدلو په نتیجه کې رامینځ ته شوي دي همدارنګه د انفارمیشن تیکنالوژي په سودا ګرۍ کې د نړۍ د مشهورو کمپنیو ډیره دلچسپي هم ددي وړ ګرزیدلي ده چې د پانګه والو شمیر زیات شي د انفارمیشن تکنالوژي کاروبار یوازي په امریکا کې ۲۵ لکه لکیان کروړ پتیان یعني میلونران کړي دي .

په ټوله اروپا کې ۲۲ لکه تنه لکیان ملیونران شوي دي .

د ټولې دنیا له غټو پانګوالو سره څه د پاسه ۱۸۰ یوسل اتیا زره میلونه ډالر راغونډ شوي دي .

که ددوی له پانګې سره د نړۍ د بلیونرانو پانګه جمع شي نو په قیمت یې ټول انسانیت ښیرازه کیدلای شي .

او د نړۍ پر ۴۲ هیوادونو باندې د شتمنو هیوادونو د واجب الادا قرض تر اندازې پنځه پنځوس ځلي زیاته سرمایه ده

همدا خبره د پانګوالو نظام او کاپیتالیزم پر خلاف د جرم او جنایت د اعلانیدو لوی دلیل دی ویل کیږي چې ددوی پرې باید د دنیا پر امپریالیستي اواستثمارګرو قوتونو وانه چول شي ځکه چې پانګوالو پانګه د خپل ذهانت او کاروبار په نتیجه کې را غونډه کړي ده .

لکه بل ګیټس چې د انفارمیشن تکنالوژي په تولید کې یې له ذهانت او کاروباري پوهې څخه شته او مال راغونډ کړی دی .

خو په اصل کې که ربنتیا ددغو پانګوالو د بډای کیدو جریان تر دقیق نظر لاندې ونیول شي نو دا خبره بالکل غلطه ده .

ځکه چې دغه پانګوال د خپل زیار او ذهانت په بیه د سرمایې او پانګې دومره پورې ته قطعا نه دي لوړ شوي .

بلکه دوي دونډو په بازار کې دونډو دقیمت د جعلي او ناچله لوړتیا په نتیجه کې دومره لویې پانګې راټولې کړې دي او دغه لویې پانګې د هغه افراط تر ټولو لوی دلیل دي چې داسلام مقدس دین یې په کلکه مخالفت کوي خدعه ، فریب او چل په کاروبار کې داسلام د مقدس دین لخوا منع شوي دی ، له بله اړخه که وکتل شي د پانګې دومره مخ په لوړ ګراف د انسانیت له فطرت سره په متضاد لوري کې روان دی او ددغه متضاد حرکت د کاپټ یالیزم او پانګوالي د سیستم او انتحار او ځان وژنې لاره رالنډوي .

خو بلمقابل له بده مرغه اسلامي نړۍ په داسي حال کې چې داقتصادي لوړتیا په لاره کې مناسیب وسائل هم ور سره شته او د نفتواو نورو معادنو ښې پراخې زیرمې په لاس کې لري ، د زراعت په لاره کې هم کولای شي چې له خپلو حساسو موقعتو نو څخه په ګټه اخستلو د نړۍ په کرهنیز ډګر کې لومړیتوب تر لاسه کړي .

ولې هغوي بیا هم د کفري بلاکونو د استثمار په نتیجه کې له خپل اوسني اقتصادي بازار نه لانور د ځوړتیا په لور روان دي ، او ددې په ځای چې د هغوي له اقتصادي حالت څخه د نړۍ غریب مسلمانان ګټه پورته کړي ، کفري ځواکونه یې زبیښي او اقتصادي ګټې یې نړۍ خور کفري طاقتونه هزم کوي چې ددې خبرې پوره مصداق شتمن عربي هیوادونه دي ، نو داسلامي نړۍ د هغو اسلامي حکومتونو څخه چې د کفري استثمار لاندې ندي راغلي د مسلمانو اولسونو هیله دا ده چې سر له اوسه د هیوادونو داقتصادي پر مختګ په لاره کې هر اړخیز اوچت ګامونه واخلي ، چې داډول دوستانه هیلې تر بل هر چا زیاتې د افغانستان د حکومت څخه کیداي شي که څه هم نن تر بل هر ځای همدا هیواد غریب او بیچاره دي .

والسلام

تروریزم چیست؟

نویسنده: محمد کبیرامینی

با بدست گرفتن سرنوشت خویش بدست خود پیروی از عقیده و مذهب خویش، رشد وانکشاف فرهنگ ملي خویش، مبارزه علیه انواع فساد اخلاقي واجتماعی، تامین عدالت درجامعه، برقراري صلح و امنیت برای همه تضمین تمام حقوق فردي واجتماعی افراد یك اجتماع. مبارزه علیه انواع تبعیض نژادي قومي، لساني و مذهبي، جلوگیري از انواع بیداد و مظالم اجتماعی، و در نهایت تلاش بخاطر ساختار یك جامعه ایکه در آن حیثیت، آبرو، عزت وکرامت انساني محترم شمرده شود آیا رسیدن به این اهداف تروریزم است؟ آیا دفاع از حقوق انساني، و رهنموئی افراد یك جامعه بسوی بلند ترین اهداف زندگي رامیتوان تروریزم نامید؟ نه خیر؟ هیچ گاه نه می شود در برابر موانع ایکه مارا از رسیدن به چنین اهداف و رسیدن به سر منزل و مقصود که در پیش رو داریم باز داشت، ملت به پا خواسته قهرمان و شهید پرور افغانستان که بخاطر رسیدن به چنین اهداف همه چیزي خود را در این راه قربان کرد، صدها هزار جوان، طفل، زن و مرد را بخاطر رسیدن به هدف ازادي وتحکیم یك نظام انساني که متضمن تمام خواسته های بشریت می باشد وطن شان به ویرانه مبدل شد. زنجیر اسارت شرق و غرب و همه روز گویان از خدا بي خبر را درهم شکستاندند وامروز که مشغول احیای دوباره کشور ویران شده ایشان هستند از طرف قدرتهای شیطاني وقت مورد ملامت قرار میگرند به بهانه های مختلف تحت فشار قرار میگرند، فقط بجرم عدم اطاعت ازدستور های زور گویان و به اصطلاح مدافعین حقوقي بشر! کاش این مدافعین دروغین یکبار سر به گریبان شان فرود آورند که بنام دفاع از حقوق بشر چه مظالمي نیست که به بشر روا میدارند! موضع گیري شان در برابر بشر تازه به آزادي دست یافته چقدر از حد گذشته، جنبش های آزادي خواهی در سراسر جهان بکدام نامها توسط همین مدافعین حقوق بشر سرکوب و نابود می شوند خلاصه بعد از این مقدمه چیني کوتاهی می خواهم در ذیل نمونه های از جنایات اهریمنان عصر را تحت نام حقوق بشر بشمارم.

تجاوز وحشیانه روسها برحریم مقدس کشور با ستاني و اسلامي مان یك مثال برجسته نقض حقوق بشر و نقض تمام قوانین روابط بین الدول نیست؟

روسهای وحشي باسراسر نمودن صدها هزار قوای سرخ و هزار ها تانك و صد ها طیارات بم افگن عصري که تا هنوز در جنگهار وقت مورد استفاده قرار نگرفته بودبتاریخ (۶) جدي سال (۱۳۵۸) هـ بخاطر دفاع از فلسفه پوچ کمونیزم و غلامان حلقه بگوش شان وارد کشور عزیز ماافغانستان سربلند و پر افتخار نمود ولي مدافعین دروغین، وتکه داران بین المللي دفاع از حقوق بشر چه عکس العمل نشان دادند؟ تنها جامعه ملل یك قطعنامه لفظي بسیار ملایم صادر نمود که از طرف کاخ نیشان کریملین انهم ویتوشد وتروریزم بسویه بین المللي نقش خود را در کشور مان بر ملا ساخت همه جهانیان فقط شاهد کشتار دسته جمعی مردم مسلمان و ویران نمودن کشور زیبای مان بودند اسانه های گروهی دنیای غرب فقط با پخش خبرهای مربوط به ذوق و علاقه شان می پرداختند راستي هم کجا بود مدافعین حقوق بشر که در برابر این وحشت و بربریت عملا دست بیك اقدام موثریکه دست روسها ی متجاوز را از کشتار مردم مظلوم وبي دفاع ما کوتاه کنند! یا تحریم را علیه متجاوزین اعمال نمایند سران با سر اقتدار نگاه داشته جیره خوار توسط قواي بیگانه از طرف کدام کشور صلح دوست ویا کدام سازمان دفاع از حقوق بشر تحریم شد؟ چوکي افغانستان چرا در ملل متحد خالي گذاشته نشد؟ چرا نماینده

مولوي مطلوب

د اسلام د ترقي او غلیمانو درسوائی دور

دا د شکه وتلي خبره ده چې د اسلامي دعوت او ارشاد کاروان په خپل لومړنی سفر کې د ډیرو خنډونو او مشکلاتو سره مخامخ او د همهغې ورځې راهیسې د اسلام مبادي او خصوصیتونه د دښمنانو او ګمراهانو د مخالفتونو او دسیسو مورد ګرځیدلي دي.

خو په الهی مرحمت او د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په مدبرانه او بزرګوارانه قیادت او د هغه د صفا لاري په حقانیت او مجاهداتو په برکت مسلمانان د جهاد په هر محاذ او سنګر کې د اسلام د دښمنانو په مقابل کې د غره په شاني محکم دریدلي او مزاحمتونه یې لومړی ځل په حسن تبلیغ او خوږه ژبه او که نه کیدل د قوت او ضربې په استعمالولو له منځه وړي دي اسلامي مجاهداتو داسي تقدس درلود چې حقیقي مسلمانان به د الهی احکامو د پرځای کولو له پاره په ډله ډله صورت په ډیني او ملي جذباتو د جهاد سنګرونو ته حاضریدل د سر او مال په قربانیو به د دغه الهی احکامو د ازموینې څخه په افتخار او ویاړ وتل: لکه چې فرمایی:

یریدون ان یطفئوا نورالله بافواههم والله متم نوره ولوکره الکفرون (الصفت) ۸

د سعادت په عصر او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د مبارک حیات په وخت کې اسلامي ارشاد او تبلیغ د هغه مبارک قاید په لاربښونه د ترقي او باطل باندي د غلبې کولو په اصل مخي ته تللي او د همدغو مجاهداتو له کبله ګوچې د عربستان څخه یو مخ کفر او الحاد جهالت او بې و قوفیومخ ونیوی ،چې الهی توفیقونه یې په قران عظیم کې دغزواتو او معجزاتو د مثال راوړلو په شکل د چا له نظره پټ نه دي د خپلواو پردیو زیاته برخه باندي قایل دي.

د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د وفات وروسته د راشدینو خلیفه ګانو مخصوص د حضرت ابوبکر صدیق د خلافت په عصر کې د یوشمیر سیاسي، اقتصادي او اجتماعی مشکلاتو پیښیدلو په نسبت د منافقینو او اسلام ددښمنانو په ټونګ داسلام څخه د وتلو تحریک د زکوة دنه ورکولو په بهانه شروع سو او د عربو ځینې قبیلو د زکوة د ورکړې څخه د نادانې او انکار د صورتونو په وړاندې کولو سره د اسلام پایې سستولي، خود حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم د لومړي یار او د اسلام د لومړي خلیفه د تینګې ارادې او رسافکر په برکت پر دغې دسیسې بریالیتوب حاصل سواو فرمان یې صادر کړ څوک چې د زکوة په ورکولو کې تعطل وکړي ، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وخت په شاني یې اجرا نه کړي د هغو په مقابل کې به جهاد اعلان شي،په دغه تصمیم ځیني صحابه کرام څکه راضي نه وو چې اسلام لا دومره قوت نه دی موندلی څو چې د مخالفینو په مقابل کې په داخلي شخړه لګیا سي خو حضرت ابوبکر صدیق (رض) د قراني اياتو د تطبیقولو په مورد کې د حق په مقابل کې د چا د مخالفت څخه باك ونه کړ او په زغرده یې د زکوة ممانعین و ټره تل او داسلامي احکامو په تعمیلولو یې مجبور کړل.

د زکوة د نه ورکولو ضررونه

زکوة نه ورکول یوازي دا معنی نه لري چې د الهي دین دیوه امر په اجرا کیدلو کې څنډ راشي بلکه دا یوه اجتماعی سرکښي ده چې بډایان یې د مسکینانو او فقیرانو د تلفولو او تولنیزو مصالحو د مقرراتو څخه د ځان کښلو عیاشي او بیباکیو په مورد کې عملي کیږي اسلام د داسي اعمالو په ارتکاب کې هیڅکله بې تفاوته نه شي پاته کیدلای ، اود زکوة د فریضي د اداکولو علاوه یې بډایان مکلفه کړي

دي چې د مساکینو د معلوم حق په لرلو سره ددوی سره نوره مرسته وکړي چې د ورور ولي اود رحمدلي په مرستو او عالی اخلاقو څخه جامعه کې د نامشروع رقابت او تشنج مخ ونیول شي لکه چې د پیسو ساتلو او د خدای په لار کې د هغو د نه مصرفیدلو په هکله ویل سوي دي : و بَشرِالکافرین بناریحمي علیها ماکنزو فتکوي جباهم و جنوبه هم و ظهورهم :

ترجمه : کافران ته په هغه اور زیري ورکړی ، چې د هغوپه خزانو به اور ولګول شي ، تندیان او شا و مخ به یې داغ او وسوزول شي .

اسلامي شریعت ددي دپاره چې مسلمانان د افراطي عمل څخه د سرمایی اومخکې د مالکیت د سلب د فکر او حرکت څخه وژغورل شي ، د شخصي ملکیت د درلودلو حق تائیدوي او احترام یې کوي او ثروت د مشترک دیګ په څیر کښي لکه د دولت خزانه چې هر مستحق د هغې څخه د ضرورت له مخې استفاده کولای شي اسلام مسلمانانو ته حق ورکړي چې په مشروعه طریقه د خپل مال د زیاتولو دپاره اقتصادي تشبیت وکړي اود هغو ناوړه عمل څخه لیري والی وکړي چې هغه د خدای ﷻ د مخلوق په ضرر او بد بختي تمامیږي .

حضرت عمر (رض) فرمایی : کل مااديت یکنزولو کان تحت سبع ارضین .

ترجمه : د هغه مال څخه چې تا زکوه ورکړ کنز نه دي ، که تا هم هغه د مخکې تر اوو طبقو لاندې امبار کړي وي . د صحابه کرام له منځه څخه زبیر بن عوام (رض) عبدالرحمن بن عوف (رض) له هغو بډایانو څخه دی چې د زکات ، صدقاتو او خیراتونو د ویشلو په وخت کې به د خدای تعالی او د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د خوشحاله کولو له کبله یو له بله رقابت درلود او یو له بله ترمخ کیدل ، د مثال په توګه حضرت ابوبکرصدیق (رض) د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خوښي دپاره خپله ټوله پانګه د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته کښیښوده پیغمبر څني وپوښتل ؟

ما ترکت لاولادك ؟

ترجمه : څه شي دي د خپلې کورنی دپاره پریښودل ؟

ده په ځواب کې عرض کړه :

ترکت لهم الله ورسوله .

ترجمه خدای او رسول مې د هغوی له پاره پرې ایښی دی :

عمر بن خطاب (رض) خپله نیمه سرمایه و حضور ته وړاندي کړه .

حضرت عثمان (رض)هغه چا چې د ابوذر(رض) په مقابل کې د بډایانو حمایت کاوه ، د اسلامي تبلیغ او ارشاد دپاره هغه اندازه خپل ثروت د پیغمبر حضور ته وړاندي کړ ، چې تر حساب لاندې نه شي راتلې تر داسي اندازي چې هغه جیش العسره لښکر یوازي په خپله سرمایه تجهیز او سا مبال کړ او د نبوي دربار څخه دغه د عزت لقب ور وبخښل سو :

ماضر عثمان ما فعل بعدالیوم :

ترجمه : د نن وروسته هرڅه چې عثمان کوي هغه ته به ضرر ونه رسیږي .

د پورتنې لیکنې څخه دا هدف په لاس راځي : چې اسلام خپلو ټولو حقدارانو ته پوره حق بخښلی او د بې جلوه پانګه والي او افراطي سوسیالزم په منځ کې یې معتدله او اخلاقي لار غوره کړي ده .

د مثال په توګه هغه وخت چې پانګه والو د فقیرانو او مسکینانو د حقوقو د تلفولو دپاره سر راپورته کړ د اسلام لومړی خلیفه حضرت ابوبکر صدیق (رض) د جهاد او راسخ ایمان په قوت د زکوة د ممانعینو په مقابل کې وجنګیدل او د اسلامي ټولنې له منځه څخه د تنفر ، کرکې او عداوت ریښې ضعیفې کړې همدا شاني که دریم خلیفه حضرت عثمان بن عفان پانګه والي د فقیرانو او مسکینانو د عکس العمل په مقابل کې حمایه کول ، په جامعه کې حتماً تشنج او نا ارامي پیښیده او د اسلامي نظام اهدافو ته یې سخت مصیبتونه متوجه کیدل د همدغه کبله یې له یوه طرفه هغه نظام د اسلامي اصولو په مراعات سره د له منځه تللو څخه بچ کړ او پر هغه باندي د نه ایمان لرلو او پر خدای باندي دتکیه لرلو او تقوا کولو په منظور د خپلې سرمایې ټوله برخه داسلام دارتقا اوا عتلا په لار کې صرف کړه .

د کفري استعمارسره د مسلمانانو جهاد

د ډیرو پیړیو د غفلت څخه د مسلمانانو د را ویښیدلو وروسته هغه وخت چې دوی ولیدل ددوی جهان اوښتی او تغیرات پکښي راغلي دي . د پردو تیري کونکي قواوي د دوی پرښارونو باندي مسلطي سوي او په عیش او عشرت اخته دي او د خپل افتخار بیرغونه یې د دوی پر پاکو خاورو د پلار او نیکه مینو په دبدبه ویاړ رپانده دي ، د مستعمري کلمه یې پر ټولو مادي او معنوي شئونو

غلبه موندلې ده . دغه استعمار په ظاهره ددوی سره د مرستې او خواخوږې کولو په نامه د دوی په وطن کې رواج موندلی خو په حقیقت کې داسې نه دي ، دوی د خپلواکو او ملي خود ارادیت درکونکو مسلمانو دولتونو پر ملي حاکمیت باندې تیری کړی او عملاً یې مغلوب او مقهور گرزولي مال اوهستې یې په تاراج او چور ځني وړې دي . د همدغو مجبوریتونو د رفع کولو له کبله ؤ چې اسلامي هیوادونو د غربي استعمار د شړلو په هلو ځلو کې تاریخي قرباني ور کړې اوپه ظاهره یې په ډیري رسوایی او شرمنده گي د خپلو هیوادونو څخه وشړل . ددغو بریالیتوبونو لوی سبب د مسلمانانو تینګ ایمان او نه ماتیدونکی عزم ؤ چې ددښمن د هر ډول مجهز او جابر قدرت په مقابل کې و دریدل او د اسلامي پاکي روحیې او بهادري په برکت خپله ابایی او اجدادي خاوره د هغو د نجبي سلطي او ناولي قدمونه څخه په امان وساتل .

که څه هم استعماري سلطو په ظاهره داسلامي هیوادونو څخه کوچ وکړ خو د کوچ په وخت کې یې یو شمیر داسې استعماري سیاسي ، اقتصادي او فرهنګي مسئلي ناحله پریښودي چې د هغو د ناروا مداخلو څخه ځینې اسلامي هیوادونه تر اوسه نا ارام پاته سوي اود ډول ، ډول استعماري او استثماري لاسجو سره مخامخ سوي اواستعمار یو ځل بیا د کلکین دلاري د سلامي هیوادونو اور ته په پکي وهلو سره ، خپلو ناوړو ارزوګانو د سرته رسولو دپاره د شیطاني جارحانه اعمالو د ترکیبدلو د عملي ګوابښ خطر یې راپاڅولی دی .

د مسلمانانو یو شمیر د لویدیځ هیوادونو د غیر مفیدو او منفي ظاهري ښکلا تر تاثیر لاندې راغلی او د هغو د مغلق تقلید له اثره د باطل او حق لاره ځینې خطا سوي او په خپل لاس یې د وطن د ګټو او فرهنګ او ثقافت په مقابل کې د وحشیانه او نامردانه عملیاتو مرتکب ګرزي د اسلام د رجحاناتو او اجتماعیاتو مشهور پوهاند او فلسفي ابن خلدون په خپله یوه مقدمه کې پر دغې مسئلې داسې رڼا اچوي : مغلوب قوم د غالب دتقلید څخه منشأ اخلي د مثال په ډول په هسپانیه کې د مسلمانانو د ذلت او مغلوبیت وروسته ددوی د حال او احوال څخه بیان کوي ، که څه هم دي د هسپانیه د زوال په وخت کې حاضر نه ؤ ، خود هغې د زوال او انحطاط د عواملو د پلټلو په مساعیو کې دغه پیش ګویی کړي ده چې ویلی وه ، اسلام همدا اوس یو ځل بیا ددغې تجزیې څخه تیریږي چې پر هسپانیه راغلي وه ، او که پانیات اوعبرت ځني وانه خلي د ناکامي او نیستي د خطر سره به مخامخ شي .

د نن ورځې اسلامي وضع د هسپانیه د انحطاط د پخواني وضع څخه ډیره بده ده ، مسلمانان که په هغه وختو کې د وطنه وشړل سول نن په خپل وطن کې تر فشار او تهدید لاندې دي ، چې د فلسطین مسئله یې ددغې ادعا ډیر ښه دلیل ګیدلای شي .

مسلمانان اوس د خپل دین د پناه ګاه څخه چې د هغه په واسطه یې پردو څخه امتیاز او تفوق درلود راوتلي او دد ښمنانو او طبقاتي تضادونو په ریښو یې ځانونه تینګ ترلي اود تنګ نظره مادي افکارو او خیالاتو پیرو ګرځیدلي دي ، د دښمنانو او غلیمانو په توګه یو مسلمان ملت د بل مسلمان ملت د ورکولو او محوکولو په دسیسه کې را ښکیل سوي دي .

کومه ناروغی چې نن مسلمان ملت تهدیدوي هغه تنګ نظره نشنلزم او عصبیت دوستي ده مسلمانان د داسي نشنلزم په غوره کولو سره د بیلو تفرقو او مخالفتونو د ښکار مورد ګرزیدلي او د یوه زیان او د بل د تکیه پر اصل ژوند کوي مادي او معنوي شتمني یې د استکباري او استعماري درسونو د منافعو قرباني سوي دي .

په داسي حال کې چې اسلام د خپل ژوندانه په منبر کې د نژادي ، لساني او ناحیوي افکارو او طبقاتي تضادونو خیالات نه ساتي او دغه عقیده هم تر دیده دي چې څوک ډدغه الهی دین خیالات او طرز العملونه د اسلامي دموکراسي ، اسلامي سوسیالزم یا اسلامي کمونزم په نوم د کلمي سره مقایسه او یا بدنام کړي .

په اسلام کې قومونه او قبایل شته ، په دغه نومونیو له بله سره پیژندل کیږي ، خو نه د تفوق او امتیاز په اهل . په اسلام کې تفوق او امتیاز په تقوا دی لکه چې فرمایی :

وجعلناکم شعوباو قبایله لتعارفو اِنّ اکرم کم عندالله اتقیٰ کم .

علامه اقبال (رح) دغه اصل ته په دي ډول اشاره کوي :

نه افغانیم . نه ترک ونه تتاریم
چمن زاریم و ازیک شاخساریم
تغیررنګ وبوبرماحرام است
که ما پرورده یك نو بهاریم

اسلام پوالهي او اخلاقي دین دی چې اصول یې پر خدای شناسي او معنویاتو ایښو دل سوي دي د مذهب او اصولو په نامه په هغه کې د تشتت او پراګندګي لاره نسته خو چا ته چې تاریخ التشریح معلوم وي هغه پوهیږي چې مذاهب له مجبوریته په وجود راغلي : هغه وخت چې اسلام لاپوره خپور سوی نه و او صحابه یو تر بله سره لیدل او کتل په هغه وخت کې به چې کومه حادثه پیښیده او شرعی حکم ته به ضرورت و دوی به یو له بله په مفاهمي داسلامي هدایاتو سره سم شکل حلاوه خو هغه وخت چې د اسلام لمن پراخه سوه او صحابه ددین د تبلیغولو له پاره نږدي او لیرو ځایونو ته واستول سوه نو هلته به چې کومه واقعه پیښیده لومړی به یې خپلو معلوماتو ته مراجعه کوله او که به په هغه موضوع کې د قران او حدیث واضح حکم ورته معلوم نه ؤ نو د صحابه و معتبري رایه ته به رجوع کوله او خپل مشکل به یې رفع کاوه څرنګه چې د اسلامي نړۍ په سیمو کې محاربي وسایل ضعیفه وونو کله کله به د یوي غونډي په تصویبولوکې د بلي غونډي په نسبت توپیر راتلي او په یوي موضوع کې به بیل بیل تفسیرونه او تعبیرونه موجودیدل . خو بیا هم هغو عالمانو چې حقیقت یې د اسلام پیروي کوله او غوښتل یې چې اسلام په خپله اصلي بڼه تر موږه را ورسوي ددې نارو غی د مخنیولو دپاره ډیر زیار ونه و ایستل صحیح احادیث یې راجمع کړه د موضوعی احادیثو د معلومولو په غرض یې د اسماء الرجال په نوم یو لوی علم تدوین کړ او تردي اندازي یې په روایاتو او اسنادو کې تحقیق وکړ چې نه یوازي ننې اسلامي عالمان ورته دقدر او اهمیت په سترګه ګوري بلکې خینې غیر اسلامي پوهان هم د اعتبار او اعتماد په سترګه ورته ګوري نن سبا خو تر دي اندازي بې باکي زورسوي ده چې په مسلمان پوري درواغ وتل او د هغه د سپکاوي له پاره په هغه باندې تهمت لګول ډیرو خلګو ته چندان عیب نه ښکاري همدا وجه ده چې داسي ډیر خلك نسته چې د معاویه (رض) او ددې د پلار او مور عمرو بن عاص (رض) بلکه ټولو بني امیه و په نسبت داسي ویناوي کوي چې په یو مسلمان پوري باید ونه وېل شي او بیا مفتریان هم خپلو خپل عرضه کتابونو په رواياتو باندې تمسك کوي .

اسلام د اختلاف ، تفرقې او تشتت سره سخت مخالف دي او کوم کسان چې رښتیني مسلمانان دي هغوی په خپلو منځو کې سره کوم عداوت او دښمني نه لري ، او لکه چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :

ټول مسلمانان د یوه جسد مثال لري او د یوي بنا او تعمیر په حیث خپلو د خپلو نورو مرستیالي او معاونین دي دا چې نن سبا د خپلو مسلمانانو ترمنځ د عداوت او دښمني نخښې ښکاري د حقیقي اسلام له تقاضا څخه وتلي دي البته یو مسلمان په دې مکلف دي چې د بل مسلمان سره په هغه صورت کې چې هغه ظالمانه کارونو ته وراندې سي مجادله او مخاصمه وکړي او د حق له پاره ورسره دښمني ته ملا وتړي اما دغه کار هم باید د اسلامي نړۍ د اتحاد او مسلمانانو د بهبود او اسلامي دین د ارتقا په غرض پناوي کنه مور د خلورو مذاهبو ترمنځ کوم اختلاف وینو هغه داسي اختلاف نه دی چې د مسلمانانو وحدت ته کومه صدمه ورسوي .

زمانه په ګمان د مسلمانانو د انحطاط یو عامل همدا دی چې مسلمانانو په اسلامي مقرارتو باندې عمل ته لږ شا ورګرځولي ده زه دا نه وایم چې دوي پنځو بنا مسلماني نه کوي . خو نن سبا په دنیا کې اقتصادي مسئلې ته هم زیات اعتنا کیږي او تردي اندازي یې اهمیت موندلي چې نه یوازي سیاست او بین المللي ارتباطات یې تر اغیزې لاندې راوستي بلکه پر دین او مذهب باندې یې هم ناوړه اغیزې ښندلي دي او خینې ناپوهان چې اسلام د لویدیځ مدنیت د خینو مقرراتو سره مخالف وویني دوی د اسلام د دښمنانو په تونګ د اسلامي شریعت دلارې څخه انحراف کوي او د لویدیځ مدني او غیر اسلامي قوانینو متابعت غوره کوي . اسلام د غیر شرعي اقتصاد مخه نیسي او سود حرام ګڼي لکه چې وایی احل الله البیع وحرم الربا . یعني بیع روا کړي او سود یې حرام ګرزولی دی نو ځکه په ټولو اقتصادي تګ نو کې د پیسو را غونډولو دافراط او تفریط څخه مخ نیسي او د یوعام المنفعه اخلاقي دین د مقراتو په تعمیلولو یې مجبوروي او اجتماعي رحلت د تامینولو په منظور یې تر کنترول لاندې نیسي

ژورنالیزم در افغانستان

نویسنده: صدالله

ژورنالیزم بحیث صنعت نویسنده گی از وقتی که خط و کتابت کشف و رواج پیدا کرد شریک ریاور زنده گی انسانها گردیده است. به هراندازه که یک جامعه به انکشاف علمی دست یافته به همان اندازه این صنعت انکشاف وتوسعه پیدا کرده است.

وسایل ارتباط جمعی در جهان امروز مقام و ارزشمندی را در تربیت و ارتقای سطح زنده گی بشر احراز نموده و پدیده هائی چون روزنامه ها، جراید، مجلات، رادیو تلویزیون، کتاب وسایرنشریه ها، با پیشرفت برق آسایی در تخنیک طباعت وو سایل سمعی و بصری نقش خویشرا در ترقی جوامع روز تا روز برجسته میسازد.

در دین مقدس اسلام، استفاده از این وسایل مطابق به احکام دینی و در چوکات قوانین معرفی مجاز بوده و حتی و جیبه مسلمانان است تا با بکار بردن این وسایل در امر به معروف ونهی از منکر مردم را به راه راست راهنمود شوند، پیغمبر بزرگ اسلام حضرت محمد مصطفی (ص) در دوره مختلف زنده گی مبارک شان بعد از بعثت وهمچنان یاران انحضرت (ص) از همه انواع وسایل که ممکن و مقدور بود جهت پخش و نشر دین مبین اسلام و دعوت به یکتا پرستی استفاده بعمل آوردند. صفحات درخشان تاریخ تمدن اسلام شاهد آنست که پیروان دین حق با استفاده از همین وسایل تاریک ترین زاویایی جهان را در دوران جاهلیت با انوار زرین دین پاک اسلام روشن ساختند وامروز از برکت همین وسایل حق بر باطل غلبه پیدا میکند.

ژورنالیزم وصحافت در افغانستان یک قرن تمام عمر دارد که در این مدت اقسام مطبوعات بوجود آمده است. وقتیکه افغانستان توفیق یافت که اولین شماره شمس النهار را نشر نماید موضوع نامه نگاری بمیان آمد، صنعت طبع و نشر با انتشار سراج الاخبار و مساعی محمود بیک طرزی وارد یک مرحله جدیدی گردید، وی باآنهم این مرحله مقارن عصری بود که صنعت ژورنالیزم در جهان مترقی تر نیز در مراحل متوسط خود قرار داشت. انکشافات علمی در ساحات مختلف توأم با تجربیات وایجاد وسایل ارتباطی بند و مسافه را روز بروز محدود تر ساخت و ساحه را برای انکشاف صنایع وسعت بخشید و ضرورت اینرا که ژورنالیزم به حیث یک صنعت جدید درپوهنتون ها وارد شود بمیان آورد و تدریس ژورنالیزم شامل پروگرام پوهنتون ها گردید. در افغانستان ژورنالیزم مدرن عمر درازی ندارد چه تا چند سال قبل انگای ژورنالستان افغانی صرف به استعداد تجربه و ممادست بود ولی امروز با تاسیس پوهنځی ژورنالیزم در پوهنتون کابل هر سال تعدادی از ژورنالستان جوان در قطار هم مسلطان با تجربه خود اخذ موقع می نمایند و به نشر و طباعت کشور انگشاف و رونق بیشتری دهند.

خوانندگان محترم!

اگر ما زوند و سیر ژورنالیزم را در افغانستان بطور مفصل دنبال نمایم از حوصله چند کتاب خارج است لذا در این مقاله کوچک یک نظر گذرا بر چگونگی ژورنالیزم در افغانستان می انداز ئیم و ایجاد وسایل ارتباط جمعی در کشور را مختصراً مرور میکنیم.

گرچه بعضی نشریه بنام کابل را تحت نظر ومدیریت سید جمال الدین افغان در اخیر سال ۱۸۷۸ هنگام سلطنت امیر شیرعلی خان توضیح کرده اند ولی چون شماره ازان بدست نیامده بود لهذا از تبصره روی ان خوداری شده است.

امیرشیرعلی خان پسر سوم امیر دوست محمد خان بخاطر پیش برد آرزوهای انکشافی خود برای نخستین بار در

سال ۱۲۹۰ هـ مطابق ۱۸۷۳ عیسوي شمس النهار را تاسیس و در مطبعه سنگي طبع نمود که مدیر مسئول ان شخصي بنام عبدالقادر خان بود قبل از شمس النهار اخبار و اطلاعات جالب تا حد زیات په قسم افواه شایع میگردید که در اشاعه ان کاروانها ، تاجرها ، کوچیها ، زایرین ، عساکر ، طالبان علم نقش عمده داشتند . منابر مساجد ، روزهای بازار . جرگه های محلي ، جشن ها . عروسي ها وسایر مراسم عنعنوي و ديني بذات خود در مبادله خبر و اطلاع نقش عمده داشتند . گروپهای محلي و جمعیت های دهات و سایل و امکانات متعدد دیگري نیز در اشاعه اخبار نقش داشتند قطع شمس النهار ۸ × ۱۲ انچ بود متن آن دارای یك ستون به عرض ۵،۵ انچ وعمق آن (۱۰) انچ بود .

بعد از مرگ امیر شیرعلي خان پسرش یعقوب خان جانشین وی شد .

دوره موصوف زود گذر بود و به تعقیب آن امیر عبدالرحمن خان پادشاه شد در مدت سلطنت این دو نفر هیچ اخبار به نشر نرسید در زمان سلطنت امیرعبدالرحمن خان مطبعه به نام دارلسلطنت وجودداشت که در آن مکاتب ، جداول . بعضي کتب و سایر نشرات طبع میگردید که میتوان از کتابي به نام پندنامه (دین و دنیا) در ۱۴۰ صفحه نام برد . از طبع سایر نشریه ها در این دوره نیز یاد دهاني شده است . بعد از امیر عبدالرحمن خان پسرش امیرحبیب الله خان زمام امور را بدست گرفت و جریدهٔ به نام سراج الخبار را تاسیس نمود ، قبل از این اخبار از لسانها خارجي ترجمه گردیده بعد از خطاطي به امیر تقدیم می شد . طول سراج الاخبار ۵۴ انچ و عرض ان ۶،۵ انچ بود .

نخستین شماره سال هشتم سراج الاخبار چراغ روشن دیگري با خود همراه داشت که عبارت از سراج اطفال میباشد .

درین نشریه مطالبي برای روشن ساختن اذهان اطفال به نشر میرسد . سراج اطفال در ۱۵ میزان ۱۲۹۷ - ۸ اکتوبر ۱۹۱۸ برای نخستین بار تاسیس شد. گرچه به شکل ضمیمه سراج الاخبار بود ولي بطور مستقل هم توزیع مي شد طی سالهای ۷۰_۸۰ و ۹۰ قرن ۱۹ گامهای اساسي را زود گذر در عالم نشر و طبع در افغانستان بر داشته میشود درین وقت سید جمال الدین افغان به تعلیمات خود مبني بر بعضي اصلاحات در کشور می پردازد و هم میتوان از فعالیت های اصلاحی میرزا عبدالعلي ، مولوی عبدالرؤف و محمد طرزي پدر ژورنالیزم افغانستان به قدر داني یاد نمود . در عصر محمود طرزی اخبار به مشابه زبان ملك ها و ملت ها قایم گردیده است . مرحوم محمود طرزی روزنامه نگاري خودرا در سراج الاخبار زیر عنوان «افتتاح کلام» آغاز کرد . اوبود که هنگام سلطنت امان الله خان سیستم خبري و پارلماني انتخابي را پیشنهاد کرد وی بار نخست بنیاد ژورنالیزم را به صورت اساسي و متداوم در افغانستان گذاشت ژورنالیزم افغانستان در سالهای ۱۲۹۸ الی ۱۳۰۷ انکشاف قابل ملاحظه نمود در این عصر با تحصیل استقلال عام وتام زمینه های حرکات ارتقای در کشور مساعد گردید که نه میتوان تبلیغات و نوشته های نویسنده گان و روشنفکران کشور را نادیده گرفت .

درین عصر علاوه بر انکشافات در سایر عرصه ها امور طبع و نشر هم انکشاف نمود این انکشاف نه تنها از نظر کمیت مشهور بود بلکه از نظر کیفیت هم به صورت متبارز به ملاحظه میرسد . در این دوره ۲۳ جریده و اخبار در نقاط مختلف کشور نشر گردید قابل تذکر است که در این دوره برای بار اول زمینه مساعد میشود که اخباري به شکل شخصي و آزاد دور از تاثیر و نفوذ مقامات حکومتي بنام انیس نشر شد .

انیس در ماه می ۱۹۲۷ از طرف مرحوم محی الدین انیس در هر پانزده روز یکبار نشر می شد با در نظر گرفتن حقایق نشرات در آن دوره بیش از پیش مطالبي مبني برملیت خواهی . اتحاد ملي و اصلاح طلبي را نشر مینمودند . صفحات امان افغان وسایر جراید این دوره شواهد زنده ای در این مورد میباشد .

طوریکه گفته شد که در این دوره ۲۳ اخبار و جراید در کشور نشر مي شد و هم میدانیم که سراج الاخبار توأم با مرگ امیر حبیب الله خان جای خودرا در ۲۲ حمل ۱۲۹۸ به امان افغان داد لهذا سر دسته نشرات این عصر امان افغان شد .

امان افغان نخستین بار به مدیریت عبدالهادي داوي در هر هفته یکبار نشر میشد تعداد صفحات آن ۱۲ و قطع و صحافت آن ۹ × ۱۳ انچ بود . عین قطع و صحافت سراج الاخبار را داشت به همان

سرمقاله

د جنوبي او مرکزي اسیا په هکله د سپینې ماڼۍ د سیاست بدلیدونکي اړخونه

دا پوښتنې د روان عیسوي کال په پیل کې چې په سپینه ماڼۍ کې د یوه نوي واکمن د کار دورې شروع کیدلې زیاتې کیدلې چې ایا نوي جمهور رئیس به د جنوبي او مرکزي اسیا په هکله په نوي پالیسي کې کوم بدلونونه تر غور لاندې نیسي ؟

ایا نوي پالیسي به بیا هم د تخریب سبوتاژ او د جنوبي اسیا په دوو ستړو هیوادونو هند او پاکستان کې د سیاسي ثبات د ګډوډي او انارشیزم پر محور را چورلې؟ که به د غه پالیسي د یو لړ مثبتو اړخونو په راخپلولو سره په یوه چوړونکي پالیسي باندې بدله شي د روان عیسوي کال د مې د میاشتې په دریمه اونۍ کې ځینې داسې نښې نښانې ښکاره شوې چې د سپینې ماڼۍ په پالیسي کې د بدلون د نښو په توګه تحلیل او ارزیابي کیږي دامریکا د بهرنیو چارو وزیر کولن پاول اعلان وکړ چې هیواد به یې په افغانستان کې له وچکالۍ څخه د را زیږیدلي فاجعې د حجم د کمښت په خاطر د ۴۳ میلیونو ډالرو کمک وکړي او دغه کمک به زیاتره د خوراکي موادو د برابرولو په برخه کې وي .

همدارنګه د جنوبي اسیا د چارو لپاره نوي تاکلی وزیري کرستینا روکا د امریکي د سینا د مجلس په وړاندې ځینې داسې موضوعات وڅیړل چې د نوي حکومت د پالیسي د بدلون نښې نښانې یې درلودې .

د بهرنیو چارو د وزارت او هندې لوړ رتبه مقاماتو تر مینځ یوه غیر عادي کاري غونډه تر سره شوه .

له پورته ذکر شوو واقعاتو څخه د امریکي د متحده ایالاتو د نوي حکومت د بهرنیو پالیسیو څرنګوالي ښه ترا پیژندلای شو .

که څه هم د امریکا د بهرنیو چارو د پالیسي تمایلات اکثره وخت دابهام په ګردونو کې پټ وي

د زرو ملیونو نفوسو درلودونکي هیواد هندوستان د چین ګاونډي هم دي او له چین سره د سرحدي کرښو پر سر تنازعات هم لري .

هندوستان د خپل پراخ مارکیټ وسیع موقعیت اواقتصادي حیثیت له مخې امریکایانو ته زښت زیات په زړه پورې هیواد دی .

امریکایان د خپلو تولیداتو د خرڅلاو لپاره اود خپلو پانګو الو کمپنیو د سیمه ایزو اړتیاوو له مخې هندوستان له نظره نه شي غورځولای .

له بله پلوه د چین پر خلاف پاکستان نه شي استعمالیدلای ځکه چې نه ددې کارتوان لري او نه د چین ګټې تهدیدولای شي اسلام اباد له پکنګ سره د پنځوس کلنې دوستي درنښت کوي خود ۱۹۶۲ کال په پرتله څو څله ځواکمن هندوستان له چین څخه د څلویښتو کالو وړاندې ترخې ماتې او شکست د غچ اخیستلو په روحې

په تیرپسی



مونږ په کابل کې د شپږو ورځو لپاره پاتې کیدلو د پوهنې وزارت او د سعودي سفارت په ګډه زمونږ د لیدنو ، کتنو ، غونډو او ویناؤو تفصیلي پروګرام طرحه کړی وُ د پروګرام په طرح او ترتیب بلکي له هیئت او د هغه له کارونو سره د فوق العاده مینې اودلچسپي ټول کریډټ رشرعیاتو د پوهنځی د رئیس ښاغلي غلام محمد نیازي په برخه دي هغه تر ټولو زمبې غوره کار دا وکړ چې د همدغې پوهنځی یوتن استاد یې د پلاوي دژباړن په توګه مقرر کړ . هغه په فکر او خیال ، جوش او جذبې او په ژباړه باندي د پوره تسلط له امله ددغه نازک کار لپاره تر ټولو ښه او موزون انتخاب وُ . ما د هغه په څیر په ژباړه باندي قادر ، د هغې پوره پوره حق ادا کونکی او د ویونکي ژور ترجمه کونکي ډیر کم لیدلي دي د هغه له ځانې خوانانو سره هم ښې ژوري اړیکي لري او په صحیح بنسټ د پوهنتونونو او لیسو د زده کونکو د فکري روزنې او لارښوونې ژور غم ور سره دی . د (الازهر) د اصول الدین له پوهنځی نه فارغ دی له لیدلو نه وړاندي یې زما ځینې کتابونه لوستلي وُ . دی او ملګري یې د سید قطب شهید ، مولانا مو... او زما له لیکنو نه نه یواځي دا چې ډیر متاثره ښکاریدل بلکي د پوهان محمد موسی توانا په ګډون ټول یې په ځانې ژبو د ژباړې هیله من وُ په کابل کې زمونږ شپږ ورځي د شمیر او د هیواد د پراخې په نسبت ډیر کمې وي خو د پروګرامونو او مصروفیتونو د ډیروالي له پلوه ډیري بوختې ډیر ګټورې او ډیر ارزښتمنې وي او په کابل کې ددغې لنډې میشتې قیمت مونږ د سختې ستړیا په صورت کې ادا کړ . پرله پسې کار ستړي کونکي مصروفیتونه مو درلودل د ورځې څلورڅلور پنځه ، پنځه پروګرامونه به سره یو ځای وُ . په هغو کې د ځینو لویو ادارو نه لیدنې زده کونکي او استادانو ته ویناوې له مهمو شخصیتونو سره لیدنې کتنې او په میلمستیاوو کې برخه شامل وُ دلته هلته له تګ را تګ او له مختلفو خلګو سره د لیدنو کتنو له امله به ټوله ورځ راباندي تیره شوه او د شپې ناوخته به ستړي ستومانه را ستانه شو مګر د افغاني علماؤ او مشرانو ښه راغلاست . د خوانانو د جوش او دلچسپي په ښه کې مونږ د خپلې ستومانۍ پوره هیله اوعوض تر لاسه کاوه .

له تحصیلي موسساتو نه د لیدنې په لومړي پړاو کې مونږ د کابل په څنډه بګرامیو کې د ابوحنیفه له مدرسې نه لیدنه درلوده او هلته مو له زده کونکو او ښوونکو سره ولیدل او خبرې مو ورسره وکړې . مدرسه په لومړی منځنی او ثانوي دریو مرحلو باندي مشتمله وه . د مدرسې ناظم استاد محمد صدیق (سیلاني) مونږ د مدرسې په صنفونو . لیلې او پخلنځی باندي وګرزولو . له ښوونکو او زده کونکو سره موخبرې وکړې او د مدرسې په جومات کې مو عمومي ویناوي وکړې د مدرسې استادان او طالبان ټول په عربي ژبه پوهیدل ځکه نو فارسي ژباړې ته اړتیا نه شوه پیښه له هغه ځایه مونږ د دارلحفاظ لیدلو ته ولاړو . د مدرسې ناظم سید محمد یعقوب هاشمي مونږ ته

ښه راغلاست ووایه او زمونږ په درناوي کې یې یوه غونډه جوړه کړه په غونډه کې د مدرسې د طالبانو او ښوونکو ترڅنګ د کابل ښار د علماؤ یوه لوی شمیر ګډون درلود. له هغه وروسته مونږ د عربي دارالعلوم لیدلو ته لاړو دا په مرکز کې د دیني زده کړې تر ټولو ستره اداره ده او وامووریدل چې د هیواد لومړی وزیر محمد موسیٰ مشفیق هم له دغه ځای نه فارغ شوي دی ددغې مدرسې پرسونل له جیدو او فاضلو علماؤ او لویو لویو پوهانو تشکیل شوي دی. د مدرسې صدر مدرس او شیخ الحدیث مولوی محمد ګل دی د مدرسې په انګړ کې یوه لوه غونډه جوړه شوي وه د ښار جیدو علماؤ او شخصیتونو په زیات شمیر کې ګډون درلود او مونږ ته یې ډیر تود هرکلی ووایه.

غونډې ته ما او استاد احمد جمال ویناوي وکړې زما وینا د لومړي خلیفه حضرت ابوبکر الصدیق (رض) د کارنامو د هغه غیرت او د مرتدینو او مسخرفینو د ټکولو په لاره کې د هغه د نه ستړي کیدونکي مبارزې په تیره بیا ددین د ساتنې په اړه د هغه د دغې مشهورې مقولې «اینقص الدین» په محور را څرخیده. همدا راز مې په هره سیمه کې د ځانې علماوو د رسالت په اړه خبرې وکړې او د مثال په ډول مې په هند کې د اسلام د کلا د ساتنې په لاره کې د حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله د کارنامو ذکر وکړ چې افغانستان کې زیات محبوبیت لري او ددغه ځای حالت د مجدد صاحب لپاره وخت سره ځانګړې مناسبت لري.

څنګه چې غونډه دیني او عملي وه اوریدونکي ټول په عربي ژبه مسلط وُو ځکه نو د ژباړې خنډونه را منځ ته نه شول او ډیر په وضاحت او د پوره بې تکلفي سره مې خپل دریځ وړاندې کړ. د هغو دیني ادارو نه چې مونږ لیدنه وکړه یو هم د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی وه زمونږ دغه لیدنه تر ټولو مهمه او خوندوره وه ځکه چې دلته هغه ځوانان په زده کړه بوخت دي چې د هیواد د راتلونکي دیني قیادت د سنبالولو تمه ترینه کیږي.

ددغه ځای ښونکي هم د خپلو ذهني او علمي استعدادونو د علم او مطالعې له املې ځانګړې حیثیت لري. همدغه پوهنځی د هیئت اصلي کوربنه هم وه د پوهنځي د رئیس پوهاند غلام محمد نیازي شمیر هم د ځیرنیز ذوق لرونکو علماؤ په ډله کې کیږي په شرعیاتو کې ژوره او پراخه مطالعه لري پوهنځی د ملګرو د پیژندګلوي په غرض د یوې غونډې او میلمستیا تاییا هم وکړه په میلمستیا کې د باندنیو سفیرانو او دیپلوماتانو ترڅنګ یو زیات شمیر وتلو علماو، پوهانو دولتي لوړ رتبه کارکوونکو، منورینو ځوانانو او د پوهنتون یوزیات شمیر محصلینو ګډون درلود. ما دلته هم یوه وینا وکړه مونږ د ملالی د انجنو له لیسې نه هم لیدنه وکړه دا لیسه د ازادۍ د تحریک د یوې ښځینه اتلې ملالی په نوم جوړه شوې ده. استاد احمد محمد جمال دلته هم یوه په زړه پورې وینا وکړه او په هغه کې یې د اسلامي شریعت له مخې د مسلماني ښځې حیثیت او په مسلمانه ټولنه کې د هغې د دندو او مکلفیتونو او د هغې پرحقوقو او همدا راز دهغې د ارزښت او مقام په اړه ښه توضیحات ورکړل ددغې لیدنې په ترڅ کې مونږ احساس کاوه چې د اروپا له کومې لیسې نه لیدنه کوو او یا هم د کوم اروپائی ښځینه کلتوري مرکز په منځ کې ولاړ یو. بې حجابي عامه وه مګر تر څنګ یې د انجونو په سترګو کې د شرم او حیا ځلکونه له ورایه بریښیدل. دا هغه څه وو چې افغاني میرمنو له پیړیو او پدیخوا خورا نوم په کې درلود او د هغوی حیا متل ګرځیدلې وه. په غونډه کې په ډیر احتیاط سره له استاد احمد محمد جمال نه ځینې پوښتنې وشوې چې هغه پخپل وار سره ډیر په سلیقه سره ځوابونه ورکړل نومورې د مسلمانو ښځو د حقوقو او په دغه مسئله کې د اسلام او نورو ادیانو تقابل ځانګړې ماهر دي. د لیسې مدیرې غوښتنه وکړه چې د ښځو د تعدد حرمت په اړه دي یوه متفقه فتوې صادره شي ځکه دا د ښځې توهین دی استاد احمد محمد جمال یې په ځواب کې هغه مصالح او ګټې ورته بیان کړې د کومو له املې چې اسلام دغه حق په خپل ځای پرې اینبی دی. مونږ د هلکانو له یوې مودې نه لیسې

(استقلال) نه هم لیدنه وکړه دلته فرانسوي رنګ غالب دی او د لیسې مدیر استاد عبدالهادي د زده کړې په څانګه کې له فرانسې نه سند ترلاسه کړیدی. دلته ما له ځوانانو سره خپل د زړه خواله شریك کړل. زما خبرې د کوم کامل پیر د تقلید په اړه وې او ځوانانو و هڅول چې د کوم کامل شخصیت په تقلید کې خپل کردار جوړ کړي.

له عصري بڼځو سره خبرې اترې

سعودي سفارت سخته تلوسه درلوده چې په کابل کې موږ له خپل تنګ وخت نه ډیره ګټه پورته کړو سفارت په همدې منظور د ژوند د هرې طبقې له زده کړو او وتلو خلګو سره د پیژندګلوي ناستې پاستې انتظام کاوه په همدې لړ کې سعودي سفیر پخپل پراخه کور کې د دوو څانګړو ناستو او ملاقاتو نو تابیا وکړه لومړی ناسته د وتلو معززو او دیندارو کورنیو له بڼځینه وو سره وه چې الحمدالله په مجلس کې شریکې بڼځې هم له اسلامي عقایدو نه خبرې وې او نه هم د موږ ترن تمدن په نشه کې له خپله دینه بیګانه.

په افغاني بڼځو باندې د نوې تمدن او د مستشرقینو د افکارو اغیزې

خو له دې هر څه سره سره موږ دا خبره احساس کړه چې په هیواد کې لویدیځ تمدن ډیر وړاندې تللی دی. ۱۹۲۸ او ۱۹۷۳ ترمنځ یو لوی واټن وهل شوي دی او ددغو دو دورو ترمنځ اوس یو لوی خلیج حائل دی.

افغانان د امیرامان الله خان تر دورې پورې په اسلامي اصولو افغاني عنعناتو باندې ډیر ټینګ وو ان تر دې چې په دیني چارو کې ددوی تصلب او غلو د مبالغې اوافراط تر پولو رسیدلې وه. همدا لامل وو چې امیر امان الله خان ډیر ژر د پخوانیو اسلامي او ملي عنعناتو نه د سرغړونې په تور له تخت نه ګوښه کیدا ته اړ ایستل شو دا مهال حالت بیخې بل ډول دي افغان ملت له خپلې ماضي نه دیر وړاندې تللی دی.

دا فاصله د شپو او ورځو له پلوه ډیره لنډه ده یعنې فقط پنځه څلویښت کاله. خو له فکري او تمدني پلوه دا واټن ډیر اوږد دی زیاتره ملتونه دا واټن په پیړیو کې وهي. حجاب اوس د وروسته پاتې والي، ناپوهۍ او غربت نښه ګڼل کیدلې ده. همدا لامل دی چې حجاب اوس د کلیو د ځینو دیندارو علماؤ او د پایتخت شاوخوا د بزګرانو تر کورونو پورې محدود شویدی که څه هم دلته فرنګي لباس عام دی مګر بیا هم د افغاني بڼځو په څیره کې هماغه پخوانې افغاني ځانګړتیاوې له ورایه څلیږي.

په پوښتنې او خبرو کې یې د توهین او استهزا نښې نه ښکاري دا لاځه چې له موږ سره د خبرو په مهال هغوی ډیر احتیاط کاوه او له خبرو نه یې د دیندارو خلکو لپاره د احترام څلك څرګندیده. هغوی غوښتل چې بڼځو ته د اسلام لخوا د ورکړل شوي حقوقو او مراتبو په اړه معلومات تر لاسه کړي مګر د هغوی له پوښتنو نه له ورایه معلومیده چې د پردې ثقافت اغیزې تر کومه ځایه رسیدلې دي؟

او د اسلام د مبادیو او د ژوندانه په اړه د هغه د ابدي تعلیماتو په ضد د اروپائی مستشرقینو منظمې پروپاګنډې د اروپایانو لخوا د وړاندې شوي د بڼځې او نر مساوات نظرئی په دغه ملت کې په تیره بیا د بڼځو په منځ کې څومره ژوري ریښې غزولې دي په دې ترڅ کې موږ دا هم احساس کړه چې په اغیزمن انداز کې د اسلامي شریعت د وړاندې کولو او منورینو د قانع کولو په لاره کې علماؤ خپل رسالت په پوره ډول نه دي ترسره کړي په هر صورت ددین داستاذیو علماؤ او په عصرې زده کړو سبمال طبقو ترمنځ د توپیرونو خلیج دومره ډیر پراخه شوي چې ډکول یې اسان کار نه دی. په دغه مجلس کې استاد احمد محمد جمال خبرې وکړې. لکه چې مخکې مو څرګنده کړه نوموړې ددغې موضوع د بڼځو حقوق او د مختلفو ادیانو ترمنځ تقابل متخصص او په دې اړه یې ډیر کار کړی دی او د موضوع په اړه یې یو ډیر موثر کتاب میکانیك تحمد. لیکلی دی ما هم غوښتل چې د افغاني بڼځو د ذهني تنویر په غرض څه ووایم.

ځکه مې په لاندې ډول خپلې خبرې پیل کړې.

بې حجابۍ او له ټولنیزو دودونو بغاوت د ملتونو د زوال پیلامه ده

ما د ملتونو اود تمدونونو تاریخ په تیره بیا د ملتونو د عروج او زوال تاریخ ډیر په غور او دقت سره مطالعه کړی دی زه په دې نتیجه رسیدلی یم چې د ملتونو او د نړۍ د ډیرو پرمختللیو او اغیزمنو ثقافتونو دور کې او زوال تر ټولو لوی او بنسټیز عوامل د هغوی د ټولنیزو عایلي قوانینو او کورنیو دودونو له منځه تلل د ښځو او نرو ترمنځ د توپیر نشته والی او اختلاط را منځته کیدل له کورني ژوندانه د ښځي بغاوت او مخ ګرځونه او له خپلو رسالتونو نه د هغې تیښته ده. د تاریخ په اوږدو کې هغه ملتونه ډیر په بیړه سره د زوال د کندي په لور زغاستي دي په کومو کې چې پورته ټاروغیو خپلې ریښې غزولي وي ښځو له کورني ژوند نه د تیښتې لاره خپله کړیده او خپلو مسئولیتونو ته یې شاکړیده هغه د (مور) له جذبې نه بې برخې شویده او د اولاد په ښه یې د نوي نسل له روزنې نه ډډه کړیده کور ته یې په خپل وجود سره ښکلا نه ده وربخښلې او کور یې د سولې، مساوات او ډاډ د یوې زانګو په ځیر نه دی جوړ کړی یو داسې کور چې نارینه یې په راتګ سره احساس کوي چې ګواکې کور نه بلکې جنت دی مګر ښځې په هغو پوښا شو یو ټولنو کې دا هیڅ څه هم نه دی کړی. ددې برعکس هغې له نارینه وو سره د هغو اغزنو میدانونو سر، کولو ته ملا ترلې ده چې فطرتا د هغې له توانه وتلی کار دی.

ښځې هڅه کړیده چې د ژوند په هر ډګر کې د نارینه سره سیالي وکړي او ددې کار پایله دا شوه چې ټولنې له ذهني او فکري، ټولنیز او اخلاقي پلوه له اړو درو او انارشیزم سره مخامخ شوي او په دې ترتیب یې د زوال د کندې په لور ګامونه نور هم ګړندي شول همدغه د پخوانیو یونانیانو کیسه ده او همدغه د رومیانو او ایرانیانو د زوال دردونکي داستان زه ویریږم چې ختیځې ټولنې له دغه ډول یوه بوړنونکي پای سره مخامخ نه شي.

دا زما لپاره سخته د اندیښنې وړ ده چې زمونږ په ختیځه اسلامي ټولنه کې ددغه ډول تباهي نښې ننباني ځرګندې شوي دي، دا په غونډه کې زما د وینا خلاصه وه چې له یوځه سمونو سره دلته وړاندې شوه.

هیله من یم چې زما دغه کړنې به رافغاني خویندو تر غوږونو ورسیږي کاش دغه لیکنه د راتلونکي خطر د احساس د راپارولو په لاره کې ګټوره ثابتیږي شي له دې وروسته غونډې ته استاد احمد محمد جمال یوه عالمانه وینا واورولې نومورې په خپله وینا کې د ښځې په اړه د اسلام دریځ په ټولنه کې د هغې د نقش بریدونه په ژوندانه کې د هغې د مسئولیت او د سالمې کورنۍ په تشکیل کې د ښځې د ارزښتناک نقش تشریح وکړه.

وروسته پرې د پوښتنو باران پیل شو زیاتره پوښتنې د ښځو (ماندینو) د تعدد، طلاق په حق کې د نارینوو ځانګړتیا او شرعي حجاب په اړه مطرح شوې مجلس په ارامه او له وقاره ډکه فضا کې پای ته ورسید او ټول نارینه اوښځینه د ماښام د ډوډۍ او د ماسخوتن د لمانځه لپاره پاڅیدل.

زمونږ ملګرې استاد احمد محمد جمال هغه مهال چې زه په غزنې کې وم د ښځو په یوه بله غونډه کې هم ګډون کړی و. له راتګه وروسته استاد د غونډې له جریانه خبر کړم او راته ویې ویل چې: د طلاق د ښځو د تعدد او حجاب په اړه تاوده بحثونه وشول او له دې خبرو نه څرګندیږي چې افغاني میرمني د ذهني او فکري انتشار او اضطرار له کومه پراوه تیریږي او د باندني تمدن او ثقافت د پروپاګنډې اغیزه تر کومه رسیدلې ده.

د کابل له علماوو سره خبرې اتري

زمونږ دوهم مجلس د علماوو لپاره ځانګړی شوی و.

څنګه چې سعودي سفارت د علماوو په منځ کې له ښه محبوبیت نه برخمن دی، څکه نو د علماو او مشایخو لوی شمیر ددغه سفارت بلنه ومنله او له هر ډول تصنع او تکلف نه پاکه د وروی په فضا کې موخبرې سره وکړې دغه شپه زما د خبرو موضوع داوه (اسلام ته د بلنې په لاره کې د علماؤ رسالت او له ملت سره د هغوی نیغ په نیغه اړیکې) نور بیا

زلمي ورور

نورشاه (نوراني)

ما خو د خپلي ژبې هر توری مرید کړیدی
رقیب مې ځکه د همدې هنر تمدید کړیدی
پر هغه ځمکه اوس ګلونه دغاټول دې راشنه
زما زلمئ ورور یې چې تیرکال یې شهید کړیدی
هله را منډه کړه چې مرګ ته به مې ورسوي
جانانه ستا د کلي سپو راباندې برید کړی دی
زما وړوکی غوندې سوال یې کړو د خاورومیلمه
چې اشنا هرڅه راته ویل ما یې تائید ګړیدی
دا چې د سترګو کاسې ډکې وړې وهري خواته
ګوره هر ښکلی مې د زړه په غوښو عید کړیدی
تنکي حسین زړګي یې بې ګناه را قتل کړلو
جانان زما سره یو دا خوی د یزید کړیدی
په ما راځنده یې (نوراني) خدای خبر څه خرڅ کړې
د سترګورو په بازارکې مې خرید کړیدی

شاعره

سید پاچا (باور)

کوي د خار کله د ګل خبري
کله د غیر کله د مل خبري
کله نرګس او ارغوان یادوي
کله کوي د نارنج ګل خبري
کله د زلفو تار ته لاس اچوي
کله کوي بیا د کجل خبري
کله نتکی او غاړګی یادوي
کله بیا سر کړي د چارګل خبري
کله سرې شونډې اننګي یادوي
یا لونګین او د اوربل خبري
کله بیا سر په کنایو باندي شي
صفا صفا ټکو کې حال ووایه
راته کوه د زړه له تل خبري
څه چې په زړه کې وي په خوله یې وایه
نه دي په کار زړه کې ساتل خبري
چې په باطلو ګوابیدلی نه شي
بهانه نه کړي د ازل خبري
د تور او سپین چې سره فرق ونه کړي
بیا به شي کمي د منل خبري
د ژوند انځور راته په سمه کاږه
شاعره پریږده د اټکل خبري
په هغو دغو مې وخت مه تیروه
ماته نور مکوه د چل خبري
هسي په تشه وینا هیڅ نه کیږي
ورسره مل کړه د عمل خبري
په زخمي زړونو چې اثر ونه کړي
باوره مه کړه د غزل خبري

نه مني

محمدعثمان (عثماني)

څراغه ستا بلې لمبې دلته هوا نه مني
وائی چې تکه توره شپه نبه ده رنا نه مني
شبنمه ! څوکه کړې قطار غمې د ګل په لمن
وخت يې د لمر په غشو ولې دلته دانه مني
بهاره ! ته که ورته راوړې څو د ناز رنګونه
مګر خزان د ګل په سرو شوندو خندا نه مني
په سپيده داغ مې توره شپه پدې خيګر وويشته
دا منګران مې اوس دا سپين غوندې سبا نه مني
چې زه يې سترګې تورومورته پلو د لاندې
مګر دا اوښکې د رانجو سره وفا نه مني
په ايبله پښې که څو مې سر ورته سرتور کړخدايه
دغه ورور مړې او زوی مړی د هيڅا نه مني
لاخو مو ولې په توپونو د جومات منارې
دا ظالمان پدې محراب کې اوس ملا نه مني
عثماني يو ددې وطن لکه ايمان په زړه کې
دښمنان څکه پدې خاوره ما او تا نه مني

غزل

عاصي (منګل)

د يو چا د کسې ويښ دی د شپونکي د شپيلی غږ کې
يو عجيب غوندې تصوير دی د شپونکي د شپيلی غږ کې
په ګونګې زړه يې پوهه کړم چې څه ورکه پسې ګرځي
خدای زده کوم ځای کې اسير دی د شپونکي د شپيلی غږ کې
زمزمه له هر نښتره د شپونکي د شپيلی اورم
هر کرښګ په کې را ګير دی د شپونکي د شپيلی غږ کې
يبلې پښې وينې تري څاڅي د زګيروي زغملو نه دی
هر فرياد يې بم او زير دی د شپونکي د شپيلی غږ کې
اسرافيل د خپل ماحول دی بس يو دی دي يوه شپيلی ده
د قيامت پکې تاسير دی د شپونکي د شپيلی غږ کې
د زغملو توان يې نه لرم (عاصي منګل) څښتنه
دا د چاد ژوند تعبير دی د شپونکی د شپيلی غږ کی

غزل

يو نوی سبا وون پاڼې مې په خندا کړي
د ورځو ورانګو ريږي به شاطی مې په خندا کړي
چې ما ورته د زړه په وينو بل کړ مشالونه
په تل کې د تيارو مړاوي ډوی مې په خندا کړي
په يوه طوفاني ډغ مې د مطاومو له اسمانه
کړو مات تور تندرونه زلزلي مې په خندا کړي
يو نوی رنګ مې ورکړ د خليل سپيڅلي ننګ ته
راځم د سرو اورو پرسر لمبې مې په خندا کړي
د وخت له تور زندانه په ميرانه را بهر شوم
حيران مې اولچکونه زولنی مې په خندا کړي
دامن د لمر څرک شوم را څرګند له توره ابره
هر خوا رنا رنا شوم توري شپې مې په خندا کړي
رنګين بهار مې را وستو د هيلو ويجاړ کور ته
نيکمرغه سهار سترګه شوم وړمې مې په خندا کړي
په متو د همت مې ضغياني جهان نسکور کړ
په ماتو خوږو زړوکي ولولي مې په خندا کړي
دتللو نومياليو د ياد کړښې مې (ذاکره)
د وخت پرصحفه ليک کړي حماسې مې په خندا کړي
په تور تيغ چې وژلی وو د عصر د جالانو
نازل د عيسي دم شوم جنازې مې په خندا کړي

ذاکر

حنف د سلفو پر قدم

دارالعلوم دیوبند

یوه مدرسه که یو نهضت؟

لیکنه : طالب العلم سردار محمد "شکیب"

د مدرسې علمي خدمتونه :

څرنګه چې په برصغیر کې په کروړونو مسلمانان ژوند کوي ، په هغوی کې ۹۰ فیصده د مذهبي پلوه احناف دي . نو طبعا دارالعلوم دیوبند په فقه کښې د حنفیت او په کلام کښې د ماتریدیت پیروان دي . خو خدمتونه او تکلاړي یې په هره شعبه کې له افراط او تفریط نه خالي دي په دې یوه سلیزه کې د هغوی علمي خدمتونه دومره په لوړه کچه او زیات شمیر کې دي چې په دې وړه مقاله کې یادښت ناشونی کار دی . د هر عصر د مقتضیاتو او غوښتنو سره سم یې اسلامي ټولنې ته خورا ارزښتناک علمي سوغاتونه وړاندې کړي دي ، یوازې د حضرت مولانا اشرف علي تهانوي له زړو نه زیات آثار د یادولو وړ دي چې اسلامي ټولنې ته یې د یو ستر خدمت په توګه نمونه ده . همدارنګه د دیوبند د نورو اکابرو لکه : شیخ الاسلام حضرت حسین احمد مدني (رح) چې ۱۷ کاله یې په مدینه منوره کې د دنیا د ګوټ ګوټ څخه راغلو مسلمانانو ته د دیني ښوونې او روزنې له لارې علمي تندي ورماتي کړي دي . دلته به په لنډه توګه د هغو آثارو بیلګې وښیو چې نومورو علماء کرامو ټولنې ته ډالۍ کړي دي : په علم التفسیر کې د شیخ الهند مولانا محمود الحسن (رح) د قرآنکریم ترجمه ، د مولانا شبیر احمد عثماني "عثماني تفسیر" ، د حضرت تهانوي " بیان القرآن" ، د مولانا مفتي محمد شفیع صاحب "معارف القرآن" ، په علم الحدیث کې د شیخ الهند الابواب والتراجم ، د حضرت ګنګوهی (رح) "الکوکب الدري" ، د حضرت ظفر احمد عثماني "اعلاء السنن" د حضرت سهارنپوري بذل المجهود شرح ابوداوود ، د حضرت شیخ الحدیث او جزالمسالك شرح موطاء امام مالك د حضرت مولانا انورشاه الکشمیري (رح) تقریر العرف الشذي على جامع الترمذي ، د حضرت بنوري معارف السنن د حضرت کاندهلوي "التعلیق الصبیح علی مشکوه المصابیح" . په فقه کښې د حضرت مفتي کفایت الله (رح) تعلیم الاسلام ، کفایت المفتي ، فتاوی دارالعلوم دیوبند مشترکه ، فتاوی رشیدیه ، امدادالفتاوی ، په سیرت کې د مولانا کاندهلوي سیره المصطفی ، د مولانا شبیلي نعماني ، سیره النبي ، په تصوف کې د تهانوي تربیت السالك ، د مولانا مسیح الله خان صاحب شریعت او تصوف . دا او داسې نور ... هغه آثار دي چې د نمونې په توګه مو یاد کړل او دا له هغو زرګونو تالیفاتو څخه دي چې د دارالعلوم دیوبند د اساتذه وو له لورې پردغو ګڼونو پرسیره د

دعوت ، جهاد ، سياست ، اقتصاد ، ادب بديع ، بيان ، منطق ، فلسفه او نورو علمي او فني موضوعاتو باندي ليکل شويدي .

د دارالعلوم ديوبند سياسي خدمتونه :

څرنګه چې ومو ويل : د دارالعلوم ديوبند محور يوازې تدريس او تاليف نه بلکه د دې ترڅنګ يې مسلمانانو ته د جهاد او عملي اسلامي مبارزې تلقين هم ورکاوو . د دارالعلوم په مشرتابه کې يو تن شيخ الهند مولانا محمود الحسن هم راته چې د نومورې اسلامي اداري لومړنی طالب العلم و ، شيخ الهند د عملي جهاد په تکل ميدان ته راوړاندي شو او د يو تحريک او جهادي غورځنګ اساس يې کښيښود ، چې "تحريک ريشمي رومال" نومېده .

حضرت شيخ الهند مولانا محمود الحسن (رح) دوه کاله وروسته له هغه نه چې د دارالعلوم ديوبند صدرالمدرس ونومول شو : د جمعيت الانصار په نوم يې يو سياسي تنظيم تشکيل کړ چې هدف يې په نړيواله کچه د انګريزي امپراتورۍ نه د مسلمانانو ژغورل و . داچې په دې تحريک کښې مولانا عبيدالله سندي (رح) هم خورا اغيزمن رول درلودی ؛ شيخ الهند هغه کابل ته د يو استاځي په توګه وليږی چې له هغه ځای نه په پټه ارتباطات اوړيکي پراخي کړي او خپل غوږنګ ته وده ورکړي ، د دوی ترخپل منځ ارتباطات د ليکونو د استولو په توسط نيول کيدل چې په يو ډول ځانګړو دستمالونو کې به نغښتي وو او بيا به د کابل او ديوبند ترمنځ استول کيدل نو ځکه ريشمي رومال تحريک ورته وايي :

څه دپاسه نيمه لسيزه دا پروګرام په بريالیتوب سره ادامه پيدا کړه خو له هغه نه وروسته يعني د ۱۹۱۶ په اګست کې د برطانيې يوې ناڅرګندې ايجنسۍ د هغوی دا پروسه کشف کړه او برطانوي مشرتابه ته يې مکمل راپور ورکړ ، چې په پايله کې يې شيخ الهند په حجاز کې د انګريزانو لخوا ونيول شو او د ۵ کالو لپاره د مالټا په زندان کې واچول شو . او د دوی د غورځنګ پروګرام پوزه بريالیتوب ته ونه رسيدی ، خو د دوی رازونو تر افشاء کيدلو وړاندي له هغوی سره د هند په شمال لوېديځ ايالت (سرحد) کې ځيني قبائلي او نور مسلمانان دې ته اماده وو چې د انګريز پرضد له هغوی سره په عملي جهاد کې برخه واخلي ، هغه و چې د شيخ الهند د پروسې د ناکاميدلو نه وروسته په دغه سيمه کې د ترنګزو حاجي صيب ، مولانا سيف الرحمن او نور قبايلي علماء کرام او مسلمانان را ميدان ته شول او د " ياغستانی تحريک " په نوم يې يو جهادي غورځنګ پيل کړ او د انګريز په وړاندي يې جهاد ته ادامه ورکړه . د دې غورځنګ په تعقيب يو بل اسلامي حرکت چې " تحريک خلافت " نومېده شروع شو .

دا هغه مهال شروع شو چې انګلستان په لومړۍ نړيواله جګړه کې د عثماني خلافت پرضد ډول ډول سازشونه او توطئې پکار واچولي ، له دې سره په هندوستان او نوره اسلامي نړۍ کې د مسلمانانو احساسات راوپاريدل ، او په هندوستان کې عملا د خلافت د تحفظ او ملاتړ پخاطر د " تحريک خلافت " په نوم غورځنګ پيل کړ دا د مولانا محمدعلي جوهر او مولانا شوکت علي او نورو علماو په مشرتابه تاسيس شو . د دې غورځنګ په جريان کې د هندوستان علماوو فيصله وکړه چې په برطانوي حکومت کې به له ګډون او برطانوي مصنوعاتو سره پريکون اعلانوي ، دوی دا پريکړه اعلان کړه او دا پروګرام يې د " تحريک ترک موالات " په نوم ونوماوه . چې په اوسنی عصر کې هم ځينې نړيوالو اسلامي غورځنګونو دا ډول پروګرامونه عملي کړي او د امريکا او نورو پر ضد يې د هغوی د مصنوعاتو سره پريکون اعلان کړی دی او په دې سره يې کافرانو ته په اقتصادي ډګر کې ښه درنه ضربه ورکړي ده . په هندوستان کې د انګريزی امپراطورۍ سره د کشمکش پر مهال انګريزانو هم ډول ډول پلانونه د مسلمانانو په وړاندي کارول ، چې يو يې هم د هند پرځمکه د قاديانيت تخم کرل و ، هغوی د لومړۍ ځل لپاره يو تن مسخر کړ چې غلام محمد قادياني نومېده ، او هغه د نبوت دعوه وکړه ، په دين کې يې تحريفات پيل کړل او د مسلمانانو د زړونو نه يې د جهاد د جذبې د ختمولو هڅې شروع کړې . جهاد يې منسوخ باله . مولانا انور شاه کشميري (رح) چې هم د ديوبند د مشرتابه يوه مخوره څېره وه ؛ د حضرت مولانا عطاو الله شاه بخاري (رح) ترقيادت لاندې يې د دې فتنې د مخنيوي په غرض د " تحفظ ختم نبوت " يو حرکت په ۱۹۵۳ کې پيل او را ونښلا و ، چې په لږه موده کې يې څه دپاسه ۵۰ زره تنه فعال غړي وروزل ، منتهی تر ۱۹۷۴ پورې د دغې بلا مخ پرته شو د پاکستان په شمول د هندوستان له ټولې ځمکې نه د قاديانيت ريښې وختې .

همدارنګه د دارالعلوم ديوبند د کوښښونو او نوښتونو په سلسله کې يو بل سياسي غورځنګ د هند د علماوو دګوند په نامه (جمعيت علماء هند) راڅرګند شو .هغه وخت چې په لومړۍ نړيواله جګړه کې انګريزانو بريالیتوب ترلاسه کړ نو پر ټوله سيمه يې واکمنی ښه په خرپ چليدله ، هيڅ چا د آزادۍ او خپلواکۍ اواز نشو اوچتولای ان چې د هندوستان ترټولو ستر ګوند (کانګرس) هم له انګريز سره د سازش لاره خپله کړې وه . خو د ديوبند مدرسې د

مشرتابه او د هند د نورو علماوو په ګډون په ۱۹۱۹ میلادي کي د "جمعیت علماء هند" په نوم یو سیاسي حرکت د شیخ الهند په قیادت جوړ شو او د لومړی ځل لپاره یې په ډاګه یوه غونډه راوبلله او هغه پخوانۍ غوښتنه او هدف یې څرګند کړ چې د تحریک ریشمي رومال په جوړیدو کې یې درلودی او هغه د انګریزانو پر خلاف د کرکې ښودل او له هغوی څخه د خپلواکۍ ترلاسه کول و .

په دې کې مولانا ابوالکلام آزاد ، ډاکټر انصاري او حکیم اجمل هم خورا اغیزمن رول درلودی . له ۱۹۴۰ څخه را په دیخوا چې د هندوستان په سیاست کې د دارالعلوم دیوبند د مختلفو غورځنګونو رامنځ ته کیدل ، تقریبا د یوه هدف لپاره وو ، خو پر دې وروستنۍ دایې د علماء ترمنځ نظریه یوه . خو ، تګلاري یې بیلې شوې . چې دیوې مشرتوب د شیخ الاسلام مولانا حسین احمد مدني (رح) کا و او د بلې دایې د مولانا شبیراحمد عثماني (رح) پرغاړه وو نوموړي غوښتل چې یوازې په هندوستان کې نه بلکه پاکستان ته هم باید زموږ فعالیتونه سرایت وکړي . د ده د دې رایې پلوی حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي هم و ، په داسي حال کې چې مولانا حسین احمد مدني (رح) خپل فعالیتونه د هندوستان ترځمکې پورې محدود کول غوښتل او هم هلته یې د انګریزانو پرضد مبارزه پیل کړه د دوی ترمنځ د لاري بیلتون په وروسته کې دا پایله ودرلوده چې په دواړوهیوادونو کې یې خپل نظریات او پروګرامونه عملي کړل او تر ننه پورې یې په دغه هیوادونو کې د دوی د فعالیتونو په نتیجه کې د دارالعلوم دیوبند د نظریې پیروان ښه پریمانه دي ، د تګلاري بیلتون یې پرځای د دې چې خطر رامنځ ته کړي بلکه ښه مثبته نتیجه یې ورکړه . د دارالعلوم دیوبند له لوري دوه نور غیرسیاسي تحریکونه پیل شول چې هدف یې د مسلمانانو معنوي اصلاح ، جوړښت او په طریقت کې د شرک ، بدعت او خرافاتو څخه ژغورل و . دغه اصلاحي غورځنګونه چې یو یې د دعوت او تبلیغ او بل د تصوف او سلوک په نامه یادیدل ،لومړی د شیخ الهند د شاګرد مولانا محمدالیاس په مشرۍ پیل او دویم دایې د مولانا اشرف علي تهانوي (رح) له لوري شروع شول .

په لنډه توګه باید وویل شي چې " دارالعلوم دیوبند " په اوسنۍ مهال کښې هغه خلف ګڼلای شو چې د سلفو پرپله یې پل اینبی دی . په لومړی سر کې د اسلامي زده کړو یوه وړوکي مدرسه وه خو په یوه نیمه لسیزه کې یې د علمي خدمتونو اغیز په شمال کې له سایبریا نه د جنوب تر جاوا او سماتا پورې ، د ختیځ له "برما" نه تر لویدیز عرب او افریقا پورې څرګند او ځلیدلي دي . په دغه څه دپاسه سل کلنه موده کې د دیوبند هغه فارغین چې په مختلفو برخو کې متخصصین دي ؛ د موثقو احصائیو له مخې ، په لاندې ډول دي : ۵۸۸۸ تنه مدرسین علماء کرام ، ۱۱۶۴۰ مصنفین او مولفین ، ۱۷۸۴ د حنیفي فقهي متخصصین (مفتیان) . ۱۵۴۰ مناظرین ، ۴۲۸۸ خطیبان او واعظین ، ۵۶۳ د تصوف او طریقت مشایخ ، ۶۸۴ تنه په اسلام ژورنالیز سمبال لیکوالان . همدا رنګه په مجموعي توګه یې په سلو کالو کې ۸۶۹۲۱۵ مستندي علمي نړیوالې فتواوي صادري کړیدي . تراوسه پور یې د نړۍ په بیلابیلو برخو کې ۸۹۳۶ مدرسې او ښوونځي تاسیس کړیدي . دغه مدرسه چې پر ۱۸۲ هکتاره ځمکه آباده شوې : هر کال یې د تدریسي نظام لپاره شاګردانو (طالب العلمانو) اندازه له ۴ نیم نه تر ۵ زره پورې رسیږي . لومړنۍ موسس یې حضرت مولانا محمدقاسم نانوتوي (رح) دی چې د هندوستان د وروسته پاتې ایالت سهارنپور په نانوته نومي کلي کې پیدا شویدی . د مدرسي مشهور او مخور استاذان او مشران په دې ډول دي : مولاناقاسم نانوتوی ، شیخ الهند مولانا محمودالحسن ، حضرت مولانا حسین احمدمدني ، علامه محمدانورشاه کشمیري ، حضرت مولانا شبیراحمدعثماني ، مولانا عبیدالله سیندهي ، مفتي اعظم مولانا رشیداحمدګنګوهی ، حضرت مولانا شمس الحق افغاني ، حکیم الامت حضرت مولانا محمداشرف علي تهانوي ، مولانا کفایت الله صاحب ، حضرت امداد الله مکي ، مولانا احمدعلي لاهوري ، حضرت علامه شمس الحق افغاني ، مولانا ذکریا صاحب ، حضرت مولانا ادریس کاندهلوي ، مفتي اعظم پاکستان مولانا محمدشفیع عثماني ، حضرت مولانا یوسف بنوري ، حضرت مولانا مفتي محمود (رحمهم الله تعالی علیهم اجمعین) او داسي نور ...

اخځلیک

۱ - تاریخ دیوبند

۲ - دارالعلوم دیوبند کا ایک تعارف

۳ - الجمعیه میاشتنۍ خپرونه اسلام اباد

د وخت ارزښت او ساعتونه



لیکنه : عبدالفتاح ابوغده ژباړه : محمد وزیر حامد

د حافظ ابن شاهین د کتابونو ډیرښت .
د حافظ ذهبي په تذکرةُ الحفاظ دریم توک مخ ۹۸۷ کې د محدث ابن شاهین په ژوند لیک کې لیکي : ابن شاهین په کال ۲۹۷ هـ کې زیږیدلی دی او په ۳۸۵ هـ کې د ۸۸ کلونو په عمر وفات شوي دي رحمه الله تعالیٰ.
دده نوم ابو حفص عمر بن احمد بن عثمان البغدادي دی . او په ابن شاهین سره مشهور دی دی خورا لوی امام ، حافظ او واعظ ؤ او ډیر زیات تصنیفات لري .
دده شاګرد ابوالحسن بن المهتدي بالله وایی : موږ ته ابن شاهین وویل چې ما دري سوه او دیرش کتابونه لیکلي دي .
له دې کتابونو څخه یې یو هم (التفسیر الکبیر) دی چې زرو اجزاو ته رسیږي بل (المسند) دی چې دیارلس سوه اجزا لري بل د (التاریخ) په نامه دی چې یو نیم سل اجزا دي او بل یې (الزهد) دی چې سل جزؤ دی .
قاضي محمد بن عمر الداودي وایی : ما له ابن شاهین څخه اوریدلي چې ویل یې ما د کتابونو د لیکلو له پاره د اووه سوه درهمو رنګ اخیستي دي ابن ابي القوارس وایی : دابن شاهین په څیر زیات کتابونه هیڅا هم ندي لیکلي .
مندر المرواني النحوي په (المذکره) سره مشهور ؤ د عربي ژبې نامتو امام په المذکرة سره مشهور ؤ ځکه دده له علم العربیت سره خورا زیاته مینه وه چې چیرته به یې کوم عالم پیدا کړ نو علمي مذاکرة او بحث به یې ورسره کاوه .
حافظ ابن حجر په خپل محضوطه کتاب (نزهه الالباب فی الالقاب) کې وایی :
د (مندربن عبدالرحمن بن معاویه بن محمد بن عبدالرشد بن المندربن عبدالرحمن بن معاویه بن هشام بن عبدالمالك الاندسي المرواني) لقب المذاکره وه ده ته دا لقب ځکه ورکړل شوی ؤ چې دي په علم النحو خورا زیات مین ؤ. په عربي ژبه کې ډیر پوهه اولوی امام ؤ. کله به چې له کوم ملګري سره مخامخ شو ورته ویل به یې
د عربي ژبې د نحو په کوم باب کې مذاکره نه کوو ؟ او له دي امله د مذاکره لقب ورکړل شو ابن حزم هم دده یادونه کړې ده او لیکلي یې دي چې دی په کال ۳۹۳ هـ کې وفات شوي دی رحمه الله تعالیٰ .
ابونعیم الاصفهاني ته به په لاره کې قرائت کیده .
حافظ ذهبي په (تذکرةُ الحفاظه) دریم توک مخ ۱۰۹۴ کې د ابو نعیم الاصفهاني په ژوند لیک کې کاږي د ابو نعیم اصلی نوم احمد بن عبدالله ؤ . لوی محدث مورخ او صوفي ؤ په کال ۳۳۶ هـ کې زیږیدلی دی او په ۴۳۰ هـ کې وفات شوي دی رحمه الله تعالی احمد بن مردویه وایی : ابو نعیم ته به په خپل وخت کې له لیري ځایه خلکو سفرونه راکول په خپل وخت کې د ځمکې په مخ له ده څخه لوی حافظ او بنه سند بیانوونکی ؤ ده ته د ګردي اسلامي نړۍ حفاظ او علماً راجمعه شوي وو او هر یوه به په نوبت سره له سهار نه تر ماسپښینه پوري چې څه غوښتل ورته قرائت کول . کله به چې ولاړ شو اوخپل کورته به تلو نو ډیر ځله به په لاره کې هم یو جزه ورته قرائت کیده . ده ستومانې نه پیژنده قرائت او کتاب لیکل یې غذا ګرځیدلي وه .

البیروني د کومو په حال کې د علم المیراث یوه مسئله زده کوله

یاقوت الحموي په (معجم الادبا) ولسم توک مخونه ۱۸۱ _ ۱۸۲ کې د فلکیاتو او ریاضي د نامتو امام ابوریحان البیروني په ژوند لیک کې وایي :
د ابوریحان اصلی نوم محمدبن احمدالخوارزمي) و لوی مورخ . لغت پوهه ، ادیب او جامع انسان ؤ په کال ۳۶۲ هـ کې زیږیدلی او په ۴۴۰ هـ کې وفات شوي ابوریحان په ډیرو کارونو

مرض اخته شوي او هم په نوي نړیوال نظام کې د خپل پراخ اقتصادي چاپیریال او په خپل هیواد کې د یوي پاینبت لرونکي ډیموکراسي په لرلو سره د ونډې غوښتونکي دي د پورته دوو دلیلونو په وجه هندوستان د چین پر خلاف له غرب اوامریکا سره د لاس یو کولو په لټه کې دي.

هندوستان فکر کوي چې له واشنګټن پاریس، لنډن او توکیو سره به د هر اړخیزې مرستې او دوه اړخیزو تودو اړیکو په نتیجه کې په دې وتوانیږي چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د مستقل غړیتوب چانس تر لاسه کړي.

د جنوبي او جنوبي لویدیځې اسیا لپاره د امریکا د بهرنیو چارو مرستیاله وزیره کرستیناروکار وایي:

له پاکستان سره د اړیکو په پاللو کې د امریکا پالیسي داوه چې ددغه هیواد اقتصادي مشکلات راکم شي.

خو واشنګټن به له هندوستان سره دخپلو اړیکو پالیسي د هند اوامریکا ترمینځ د تجارت اقتصادي راکړې ورکړې د پراختیا او په نړیوالو مسایلو کې د هند اوامریکا ترمینځ د مرستې او همکاري د فعالیت پر محور راچورلې د کرستیناروکا د پالیسي وینا په ډیره واضحه توګه په سیمه کې د امریکا د متحده ایالاتو د سیاست او پالیسي کړنې روښانوي.

یعنې واشنګټن غواړي چې هندوستان په اسیایي اړیکو کې د یوه مهم اندیوال په توګه ومنې او زړه سره د شراکت معامله داري وکړي خو له پاکستان سره یوازې د ستونزو په هوارولو کې د مرستې سرسري خبره کیږي.

په دې وروستیو وختو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر کولن پاول خپل پاکستاني سیال ښاغلي عبدالستار د یوه رسمي او دوستانه سفر لپاره واشنګټن ته غوښتې دي کتونکې عقیده څرګندوي چې په دغه سفر پوري امریکایانو له دې امله زیاتې هیلې تړلې دي چې د پاکستان اسلامي جمهوریت د افغانستان داسلامي امارت یو مهم ګاونډي دی او د دواړو هیوادونو ترمینځ رسمي او دوستانه اړیکې شته ممکن امریکایان کوشش وکړي چې داسلام اباد له لارې له کابل او کندهار سره د اړیکو ډ ټینګولو او ستونزو د هوارولو د پټې او خفیه دیپلوماسۍ تارونه وغځوي خو د افغانستان د اسلامي امارت لوړ رتبه مقامات وایي چې هیڅ ډول سیاسي تحرکات او ارتباطات به د ا بهام په پرده کې پرې نږدي. ځکه چې د امارت پالیسي پر څرګندو اسلامي کرښو روانه ده او د انعطاف هیڅ ډوله ګنجایش نه لري.

که له یوي خوا امریکایان د افغانستان له خلکو سره د مرستې او کمک خبره کوي نوله بلې پلوه په پراخه توګه د افغانستان پر خلاف د خپلې جهنمي میډیا او ډله ایزو خبرې وسایلو له لارې په پروپاګنډونو او منفي تبلیغاتو بوخت دي.

دامریکا په بهرنیو چارو کې د جنوبي اسیا لپاره وزیره کرستیناروکا د افغانستان په هکله وایي:

طالبان د افغانستان او سیمې لپاره په پرله پسې توګه د خطر ګوابنونه دي او امریکا په دې هکله په مسلسله توګه خپل تشویش څرګندوي.

کرستینا زیاتوي چې نه یوازې د طالبانو خطر د افغانستان لپاره دي بلکه دغه خطر سیمه ایز هم دي او موږ نه غواړو چې په افغانستان کې سوله اوکراري تل ترتله وجود ونه ولري.

د افغانستان خلک د ښه روښ او ښې رویې مستحق دي او امریکا غواړي چې په افغانستان کې ثبات او سوله ایز ماحول د سیمې او منطقې دثبات او سوله ایز حالت لپاره معاون ثابت شي.

دا اوداسي نوري څرګندوني د سپینې مانۍ هغه هڅې دي چې نه یوازې په افغانستان کې بلکه زموږ په ټوله سیمه کې د ثبات او کراري چانسونه بري ته نه پریږدي.

امریکا یان له یوې خوا په افغانستان کې دسولې د دایمي او همیشنۍ موقعیت د ټینګښت بدنامه ډنډوره غږوي خو له بلې خوا د سبوتاژ تخریب ورانکاري او ګډ وډي له ډلو ټپلو سره سخاوتمندانه مرسته کوي او د ملګرو ملتونو له لارې لګیا دی په افغانستان کې داسي عناصرو نماینده عناصرو په توګه را پورته کوي چې له پخوا لا د افغانستان خلکو شړلي دي او په افغاني ټولنه کې د پښو د ایښودلو ځای نه لري.

له ترکیې څخه د دوستم راوستل افغانستان ته او د پنجشیر د باغیانو له ډلو سره د غرب بې دریغه مرسته په خپله په سیمه او افغانستان کې د ثبات او امن پر مورچل. دامریکایانو غلچکي بریدونه دي.

او دغه غلچکي بریدونه په هیڅ ډول د سیمې او منطقې د ثبات او امن له ارمان سره مرسته نه شي کولای.

کې زیات مهارت درلود او د لوړ مقام څښتن ؤ او په تعمیري چارو کې هم ښه پوهه ؤ .

دی به هر وخت د علم په زده کړه بوخت ؤ او کتابونه به یې لیکل .

د علم سختي او پیچلي مسئلي به یې حل کولې .

هر وخت به یې قلم په لاس کې وه . سترګې به یې په لیدو او زړه په فکر بوخت وو . ټول وخت به داسې مصروف ؤ. خو یواځې د کال دوه ورځې نوروز او مهرجان وي چې د ژوند د اړتیا ، خوراک ، څښاک ، پوښاک ، له پاره به یې څه پکې کول .

نور به نو ټول کال بوخت ؤ او د علم له ستونزمنو مسئلو څخه به یې پردې لرې کولې او د پوهې له لیچو څخه به یې د مفلسانو لستونې نغښتل .

فقیه ابوالحسن علي بن عیسی الولوالجي وایي : زه ابوریحان البیروني ته ورغلم ده سابنده بنده کیده او په سینه کې یې خرهار وه په دې وخت کې یې عمر ۷۸ کلونه ته رسیده او ماته یې وویل : د جدات فاسده (د مورلخوا نیاګاني) حساب تا یوه ورځ ماته څه ډول ویلې ؟ زما زړه پرې وخوړیده او ورته ومې ویل ایا په دې حالت کې هم ته علمي بحث کوې ؟ !

ده راته وویل ګوره ! زه له دنیا څخه رخصت کیږم نو ښه به دا وي چې په داسې حال کې رخصت شم چې په دې مسئله پوهه یم او دا ښه نده چې له دې مسئلې څخه جاهل پاتې شم .

ابوالحسن وایي هغه مسئله مې ورته تکرار کړه او ده یاده کړه او ماته یې هم هغه څه را وښوول چې وعده یې راسره کړې وه . کله چې زه ورځخه راستون شوم لا په لاره کې وم چې د ښځینه وو ژړا او چیغې مې واوریدې . دا لوی او نامتو امام په پنځو ژبو ښه پوهیده ، عربي ، سرياني ، سنسګریت ، فارسي ، هندي ، په علم الفلکیات ، طب ، ریاضیات ، ادب ، لغت ، تاریخ او نورو علومو کې دده د کتابونو شمیر له ۱۲۰ څخه اوړي .

نامتو مستشرق او ختیځ پوهه (سخاو) دده په اړه لیکي : ابوریحان د تاریخ له نامتو پوهانو څخه ؤ . مشهور ختیځ پوهه سارټون وایي : البیروني د اسلام له سترو لویانو څخه دی او د نړۍ له نامتو پوهانو څخه دی .

د قدري حافظ طوقان په کتاب (تراث العرب العلمي فی الفلك والرياضيات) مخونه ۳۱۰ _ ۳۲۱ کې دده د ژوند حالات وګورئ .

سلیم رازي به هر وخت په نسخه ، تدریس ، قرائت او تلاوت بوخت و

حافظ ابن عساکر په خپل کتاب (تبیین کذب المفتري) مخ ۲۶۲ کې او تاج الدین السبکي په (طبقات الشافعیه الوسطی) کې د امام سلیم الرازي په ترجمه کې لیکي :

سلیم الرازي په خپل وخت کې د شوافعو له لویو او وتلیو امامانو څخه ؤ په کال ۴۴۷ هـ کې وفات شوي دی .

تاج السبکي وایي : دی خدای ښبلی زیات متقي وه د وخت یې زیاته ساتنه کوله یوه ګړی یې هم بې کتې نه تیروله هر وخت به په نسخه ، تدریس ، او قرائت بوخت ؤ او خورا زیاتي لیکنې یې کړې دي حافظ ابن عساکر لیکي : موږ ته خپل استاد ابوالفرج الاسفراییني دده په هکله ویل :

دی یوه ورځ کورته ولاړ چې بیرته راغی راته وویی ویل چې ما یو جز په لاره کې قرائت کړ ابوالفرج وایی ماته مؤمل بن الحسن ویل : چې ما سلیم ولید د قلم د جوړولو په مهال یې شوندې ښوروله . نو معلومه شوه چې د قلم د جوړولو کم وخت یې هم نه ضائع کاوه اود لاسونو د بوختیا په مهال یې په شوندو ښوروله سره ذکر پیل کړ خو دا کم وخت هم بې له طاعته تیر نشي .

نو الله پاك دی رحم پرې وکړي غنمیتونه یې څومره ښه پیژندلي ؤ !!

خطیب بغدادي به په لار روان ؤ او کتاب به یې مطالعه کاوه

حافظ ذهبي په (تذکرة الحفاظ) دریم ټوك مخ ۱۱۴۱ کې د بغداد د مورخ اومحدث خطیب بغدادي (چې په ۳۹۲ هـ کې پیدا او په ۴۶۳ هـ کې وفات شوی) په ترجمه کې لیکي : خطیب به په لاره روان ؤ په لاس کې به یې د کتاب یو جز ؤ او هغه به یې مطالعه کاوه . ځکه هغه د وخت ارزښت پیژاند او نه یې غوښتل چې د تګ دا کم وخت یې هسې ضائع شي .

امام الحرمین بې له اړتیا خوب او خوراك نه کاوه

حافظ ابن عساکر په (تبیین کذب المفتري) مخونه ۲۷۸ _ ۲۸۳ کې او تاج السبکي په (طبقات الشافعیه الکبري) پنځم ټوك مخونه ۱۷۴ _ ۱۷۹ کې د امام الحرمین په ژوند لیك کې داسې کاږي : ابو المعالي عبدالمالك بن عبدالله الجویني ، النیسابوري ،

الشافعی ، لوی اصولي ، متکلم او ښه مناظرؤ او د امام الغزالي ؒ استاد ؤ په کال ۴۱۹ هـ کې پيدا او په ۴۷۸ هـ کې وفات شوي دی رحمه الله تعالی عبدالغافر الفارسي په خپل کتاب (سياق نيسابور) کې ليکي : فخر الاسلام امام الحرمين په مطلقه توګه د امامانو امام ؤ د شريعت نامتو عالم ؤ په ختيځ او لويديځ کې دده په امامت باندي د خلګو اتفاق وو.

دده په خير انسان سترګو نه و ليدلي او نه به يې په راتلونکي زمانه کې وويني .

د خبرو په منځ کې مي ځني واوريدل چې ويل يې : زه له عادت سره سم خوب او خوراک نه کوم شپه وي که ورځ چې خوب غلبه را باندي وکړي نو ويده شم او ډوډۍ ته مې چې کله زړه وشي خورم يې . دی به په علمي مذاکره کې ډير خوشحاله او هر وخت به يې مذاکري کولې چې هر ډول فايده به يې ترلاسه کړه په هغه به يې خوند اخيست .

له علم سره يې دومره بې کچې مينه وه چې د پنځو سو کلونو په عمر کې د يوه عالم شاګرد شو . موړ ته په ۴۶۹ هـ کې شيخ (ابوالحسن علي بن فضال بن علي المجاشعي ، القيرواني ، النحوي راغی .

امام الحرمين د هغه ډير احترام وکړ او د علم النحو قرائت يې ځني پيل کړ اوشاګرد يې شو . دا په داسي حال کې چې فخرالاسلام د امامانو امام ؤ او عمر يې پنځوسو کلونو ته رسيدلی وه او هر يې کورته ورسره بيولو د هغه کتاب (اکسيرالذهب فی صناعة الادب) به يې ځني و ايه . له ابوالحسن المجاشعي څخه مي واوريدل چې ويل يې : ما ددي امام په خير د علم عاشق بلځوک ندی ليدلی ځکه دی علم دعلم له پاره کوي . او همداسي ؤ هم .

يعقوب النجيرمي به هم په لاره کې کتاب مطالعه کاوه :

علاقفطي په خپل کتاب (انباه الرواة علی انباه النحاه) دريم توک مخ ۷۹ کې د محمد السعيدي بن برکات النحوي ، البصري ، المصري (چې په ۴۲۰ هـ کې پيدا او په ۵۲۰ هـ کې وفات شوي) په ژوند ليک کې کاږي : زه هلک وم چې ابو يوسف يعقوب بن خزراذ النجومي مې وليد چې د قرافه په لاره روان و غنم رنګي سپين ږيری ؤ . لويه ږيره يې وه او ګرده پګړي يې وهلي وه په لاس کې يې کتاب نيولي و مطالعه کاوه يې .

ابن عقيل او ابن الجوزي د وخت په ساتنه کې تر هرچا زيات وو

د وخت په ساتنه ، د هغه په قيمت او ارزښت پيژندلو کې ابن عقيل او ابن الجوزي تر هرچا زيات وو خپل وختونه يې له قيمتي او ارزښتناکو عملونو څخه ډک کړي وو او له ګړي ګړي څخه ګټه پورته کوله د تاليف ،تفکر ، تذکير اوتذکر ؤ په لحاظ دواړه خورا لوړو مقاماتو ته رسيدلي وه .

دواړه نامتو امامان دي اود حنبلي مذهب نومیالي فقها دي بلکي د ګردي نړۍ د مسلمانانو امامان دي .

لومړی ابو الوفا ابن عقيل الحنبلي د حافظ خطيب بغدادي شاګرد دی . دويم ابوالفرج ابن الجوزي د ابوالوفا ابن عقيل د شاګردانو شاګرد دی . رحمهم الله تعالی د دواړو له ژوند ليک څخه دلته يو څو داسي کرښې را نقل کوم چې له لوی کتاب به بې پروايی راولي .

ابن عقيل يو له ازکياود بني ادم څخه

خافظ ابن رجب الحنبلي په خپل کتاب (ذيل طبقات الحنابله) لومړی توک مخونه ۱۴۲ _ ۱۶۲ کې د امام ابوالوفا ابن عقيل الحنبلي علي بن عقيل البغدادي په اوږده ترجمه کې ليکلي چې خلاصه يې داسي ده دی په کال ۴۳۱ هـ کې زيږيدلی او په ۵۱۳ هـ کې وفات شوی دی . د نړۍ له نامتو پوهانو او د بنيادمو په وتليو اذکياو کې شميرل کيږي .

خورا زيات پوهه او د ډيرو علومو ماهر ؤ . ده به ويل : ما هيڅکله د خپل عمر يو ګړی هم ندی ضائع کړی ان تر دي پوري چې کله به مې له مذاکري او مناظري څخه ژبه ولويدله او په سترګو به مې مطالعه نشوای کولای نو د استراحت له پاره به پريوتم او فکر به مې کاوه او د څه ليکلو له پاره به مې چې څه نه و برابر کړي تر هغو به نه پاڅيدم .

زه اوس د اتيا په لسيزه کې يم خود علم حرص مې د شلو کلونو د عمر له وخته ډير زيات دی .

ابن عقيل به وخت د ژغورنې په خاطر وچه ډوډۍ خيشتوله او خوړه به يې

زه زيات کوښښ کوم چې د خوراک وختونه را لنډ کړم ان تردي پوري چې عادي ډوډۍ نه خورم بلکي د وچي ډوډۍ توټي را واخلم او په اوبو کې يې خيشتي کړم بيا يې خورم ځکه د عادي او روغه ډوډۍ له دې وچي ډوډۍ سره يو څه توپير لري روغه ډوډۍ په ژو ولو

پهرې میشته افغانانو ته د ډاکټر فاروق اعظم مشوره

یادونه: درنو لوستونکو دا لیک د میراد یو تن جهادي او علمي شخصیت ډاکټر فاروق اعظم له لندن څخه د خلافت مجلې دفتر ته را لیږلی دی چې موږ یې ستاسو مخې ته پرې

مرحوم محمد یعقوب کاکړ د حاجي عبدالشکور اکا زوی او د کندهار په نسبتاً بډایه کورنۍ کې زیږیدلی ؤ، څلور پنځوس کاله دمخه ولندن ته د تعلیم لپاره راغی که څه هم بیرته افغانستان ته ولاړ او څوکاله یې هلته خدمت وکړ خو غربي فرهنګ پرده بې اثره نه وو، څو کاله دمخه بي بي سي ته په یوه مرکه کې ده خپله ویلي وه چې په عیسوي اختر کې به ده د کرسمس ونه په خپل کور کې درول دغه اثر وو چې ده دلته انګریزه ښځه وکړه او له هغې څخه یې دري لونې هم درلودې خو زما ورور چې دده سره له نژدې پیژندل او ډیرو نورو افغانانو چې په بي بي سي کې یې د کاکړ صاحب سره یو ځای کار کړی وو راته ویلي دي چې کاکړ صاحب ښه مسلمان لمونځ ګذاره په زړه پاک او زړه سواند سړی وو خو ددې ټولو ښیګڼو سره سره هغه ونه کولای سوای چې خپله ښځه او اولاد مسلمانان کړي په دې ډول هغه پخپل کور کې د یو متضاد او یو ډول ناارام ژوند څښتن وو دغه روحی کشمکش د کاکړ صاحب روح پسله مرګه هم ارام ته پرینښوده کاکړ صاحب په لندن کې د زړه د حملي له امله ټاببره مړ او یوه اونۍ وروسته د جون په څلورمه ۲۰۰۱ میلادي کال نېغ سو مړی یې ددې ښځي د اکتون پخپله عیسوي هدیره کې د نورو پرنګیانو څنګ ته په داسي ډول ښخ کړ چې د کفن پر ځای یې د پرنګیانو پشان دریشي په کړي وه او مسلمانان یې مړي ته نژدې نه ور پرینښودل څه افغانان یې جنازي او ښخیدو ته ورغلي وه خو ټول پر خپلو ورتلو پښیمانه وه زه یې هم هدیري ته ورغلم د مسلمانانو پر ځای یې سرو پرنګیانو پر تابوت خاوري اړولي ما هم دده روح ته ددعا سره څه خاوره پر قبر ور واړول مګر پرنګیان حیران وه چې زه څه پروایم هغوی په تعجب راته وویل چې دا مړی ستا څه وو؟ ما ورته وویل وطندار نو. هغوی چې په وه شول چې مړی د بل وطن سړی وو ماته یې وویل چې دلته یې څه کول؟ ما ورته وویل چې قسمت راوړی وو زه د عبرت په سوچ کې ډوب ځینې را روان سوم او د ځان سره مې ویل چې زموږ د مهاجرو سرنوشت او راتلونکي څنګه سو دا حال ولي راغی او څه باید وسي؟ خو یوه خبره مې د خپل پریشانه ذهن په شلیدلي ځنځیر ژر سره وټرل هغه دا چې هر څوک باید په مهمو مسایلو کې وصیت وکړي دا ځکه چې ژوند په باور ندی که کاکړ صاحب وصیت کړیوای نو ولي به د پرنګیانو په هدیره کې د پرنګیانو په دود اود پرنګیانو په لاس ښخیدی.

ایا امریکا وړه بله غلطي وکړي؟

مبصر: سولږ سلیمانخیل

د امریکا د متحده ایالاتو د ستر درستیز مرستیال جنرال هنریپ شلټن په ناڅاپي توګه د هندوستان ، عمان ، قطر او اردن له مخکې پلان شوي او تنظیم شوي سفر څخه وروسته دی باید وویل شي چې نوموړي جنرال د امریکا د متحده ایالاتو د لوړ رتبه پوځي مامور په توګه د تیري میاشتي په ۲۹ نیټه سیمي ته رسمي او کارنده سفر درلود چې له پخوا څخه د پنټاګون او دفاع وزارت لخوا اعلان شوي هم وو جنرال شلټن وایي چې سفر یې د امریکا د دولت ددفاع لپاره سکرتر ډونالډ رمسفلډ او نورو لوړ رتبه مامورینو سره د مصر د فیاتو له املې څخه ډیدلی دی او اوس دی دغه سفر د اوړي د ګرمیو په موسم کې نه شي کولای .

نوموړی جنرال وایي چې له امریکایي مامورینو سره د امریکا پرپوځي وضع دفاعی بودجه او یو لړ نورو سیمه ایزو مسایلو باندې بحث او مباحثه لري خو کارپوهان وایي چې د نوموړي جنرال لخوا د خپل سفر د التوا په هکله دغه معذرتونه منطقي نه بریښي ځکه چې نوموړی مصروفیتونه لاپخوا د کار د تقسیم اوقات په لیست کې په منظمه توګه تنظیمیږي او دداسي مصروفیتونو لپاره د سفر څخه ډول یو غیر عادي کار دی . د همدې کارونو لپاره لاپخوا جنرال شلټن د امریکا د هوایي قواو یو لوړ رتبه پوځي افسر جنرال رچرډ څخه مرستیال په توګه ټاکلی وو .

خو له دې ټولو انتظاماتو سره سره د جنرال شلټن د سفر نابېره التوا د کومې پیچلې عقیده یو غیر نارمل کار دی .

بایدوویل شي چې د جنرال شلټن د سفر د څنډیدو اعلان د می د میاشتي په ۲۹ تاریخ وشو او په همدغه ورځ د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو اړیکو دیپارټمنټ په جنوبي اسیا کې هستوګنو امریکایانو ته د خان د حفاظت په هکله خبرداری ورکړ خبر داری په داسي حالت کې ورکړ شو چې په نیویارک کې لوی امریکایی عدالتي محکمي د ۱۹۹۸ میلادي کال د کینیا او تانزانیا په چاودنو کې د اسامه بن لادن پر ملګرو باندې د لاس لرلو جرم په رسمي توګه اقامه کړ .

پدې حال کې چې د امریکا حکومت ددغو چاودنو له کیدو سره سم د اسامه بن لادن پر خلاف یو پراخ تبلیغاتي کمپاین پیل کړ . او د همدغو چاودنو په بهانه یې د افغانستان د اسلامي امارت پرځمکني قلمرو باندې را کیتې تیرۍ وکړې خوامریکایانو ددغه ناکام او بدنام بریدپه نتیجه کې د ګټې پرځای تاوان ولید او په نړیواله توګه یې تجاوز او تیرۍ د کرکې او نفرت وړ وګرزید خو د امریکا د متحده ایالاتو د جاسوسي رسوا او بدنام سازمان C . I . A او پنټاګون په پرله پسي توګه د افغانستان په هکله توطیی وکړې او ددغو توطیو لړۍ لاروانه ده .

پنټاګون او C . I . A همدا اوس هم په افغانستان کې د اسامه بن لادن د شته والي پرخلاف پروګرامونه طرح کوي دغه پروګرامونه د تجاوز تیري او برید پروګرامونه دي .

په افغانستان کې د یوه مظبوط نظام د شته والي برکت دی چې تر اوسه پوري دغه غبرګي شیطاني او ابلیسي اداري په دي نه دي توانیدلي چې په خپلو پروګرامونو کې یو قدم هم مخکې ولاړشي .

کتونکي عقیده څرګندوي چې امریکا پلان لري د اسامه بن لادن په بهانه یو ځل بیا پر افغانستان باندې کمانډویی برید وکړي .

امریکایانو ددغه کار لپاره یو نیټ ورک په منظمه توګه تر اجرا لاندې نیولی دی ددغه نیټ ورک تصدیق څینې امریکایی خبري شبکې هم کوي مبصرین په دي عقیده دي چې په یمن کې د امریکایی پوځي شبکو غیر نارمل حرکات او هندوستان ته د جنرال شلټن د سفرڅنډیدل او څینې نورې خفیه علامي

پر امریکایانو باندې شکونه او ګمانونه پیاوړې کوي ترڅوهغوی یوځل بیا پر افغانستان باندې د اسامه بن لادن او د القاعده د تنظیم د تشکیلولو په بهانه د یوه غلچکي کوماندویی برید په تکل کې دي .

په سیمه کې د اسرائیلو او هندوستان ترمینځ په پراخو ساحو کې د پوځي سیاسي او استخباراتي همکاریو د تبادلې په نوي پس منظر کې د جنرال شلټن د طرحه شوي سفر ناڅاپه ځنډ یو ځل بیا هغه ګوابنونه را ژوندي کړي دي چې له یوي مودي را هیسي زمونږ د سیمې امنیت او ثبات ته د جدي خطرونو په توګه تلقي کیدل .

سیاسي څېړونکي په دي عقیده دي چې له یوي اوږدي مودې را هیسي د امریکا د متحده ایالاتو د جاسوسي پټ سازمان C . I . A د هند د استخباراتي شبکې را اود اسرائیلو د جاسوسي تنظیم موساد په همکاریو غواړي چې په سیمه کې د تروریزم او سبو تاژ په نوم یو لړ داسي اقداماتو لاس پوري کړي چې په نتیجه کې یې اسلامي غورځنګونه وټکول شي اود سیمې د مسلمانو هیوادونو له استراتیژیکي ګټو څخه ددفاع پیاوړي مورچلونه رنګ شي .

د هند واکمنو په نابېره توګه پاکستاني قیادت ته د کشمیر د مسلې پر سر په لوړه سطحه د خبرو او ډیالوګ د عوت ورکړ .

د پیلو ماتیک منابع عقیده څرګندوي چې ممکن دغه دعوت هم د هغې توطیې او دسیسې یوه کړۍ وي چې امریکایان یې د اسرائیلو او هندوانو په مرسته په منطقه کې عملي کوي.

پرافغانستان باندې د ممکنه برید په نتیجه کې شاید چې غربي میډیا کوشش وکړي ترڅو د نړیوال ذهنیت ګراف د واجپاي مشرف د لیدنې کتنې په لور په دي نژدي وختونو کې د هندوستان اوترکیې هغه تلویزیوني شبکې چې د C . I . A لخوا تمویلیږي په غیر نارمل ډول په اسیا کې د اسلامي تروریزم د وسعت اوپراختیا په بهانه د مسلمانانو پر خلاف په ناوړه پروپاګنډ کې یو له بله مسابقه کوي .

له بله پلوه دامریکا مطبوعات لګیاده د پاکستان د اتومي انرژۍ په هکله خصمانه تبلیغات کوي ترڅو په سیمه کې د مسلمانانو پر خلاف د وروستي ګزار لپاره ذهنیتونه د امادګي اوتیاری د پام وړ کچې ته ورسوي خو تر اوسه پوري په سیمه کې داسي حالات نه دي مساعد چې امریکایان به وکولای په اسانه خپل شیطاني مقصدونه تر لاسه کړي .

د افغانستان مومن او پتمن ملت له بل هر تاریخي پړاو څخه متحد او مظبوط دی

په ۹۵ فیصده افغاني خاوره کې متحد قیادت د خپل مومن او مجاهد ولس په بې دریغه باور څخه برخمن دي اوپه ټول افغانستان کې سیاسي او اداري ثبات ورځ په ورځ د پیاوړتوب اخري مراحلو ته رسیږي .

افغان وطن او افغان ولس په دې تاریخي مرحله کې کولای شي هر ډول بهرني لاس وهنې شنډې کړي .

تروریست کیست ؟

حکومت کمونستي وقت از سازمان ملل اخراج نشد ؟ چرا علیه رژیم ملحد برسر اقتدار وقت اعمال تحریم عملي نگردید ؟ علت آن فقط و فقط مبارزه دنیای کفر علیه اسلام بود رژیم یکه دستش بخون هزاران انسان بې دفاع سرخ بود ، ورژیم یکه زندانهایش از حساب بیرون و تعداد زندانیان را نمی توان خدس زد از طرف کدام سازمان مدافع حقوق بشر مورد باز پرس قرار گرفت ؟ در مقابل دنیای کفر هنوزهم چه در ساحه نظامی اقتصادي وسیاسي حمایه میگردید در تمام کنفرانس های بین المللي نماینده حکومت دست نشانده اشتراك می نمود مسئله پایمال نمودن حقوق بشر هیچ مطرح نبود ، کشتار دسته جمعی بیش از (۲۵) هزار مردم مظلوم و مسلمان ولایت هرات . به مرمي بستن مردم فقط به جرم مسلمان بودن ، سوزانیدن بیشتر از صدهاجوان در کاریز پادخواب شانه . کشتار وحشیانه مردم بې دفاع برکي برك ولایت لوگر که تعداد شانرا می توان بیشتر بشمرد توسط اعمال کمونیزم که بعداً در بین حوض های پراب و گلدار انداخته شدند ، به شهادت رسانیدن تعداد از خواهران (۳) حوت در کابل که شعار شان بیرون شدن قوای ملحد از کشور بود ، شهید ساختن مساجدو عبادتگا های پرافتخار مسلمانان در سراسر کشور ، به زندان کشانیدن علمای کرام و در نهایت به شهادت رسانیدن شان به وحشیانه ترین طریقه ، سوزانید خانه ها ، کشت زارها وانواع دارائي های عام المنفعه ایا همه

ايـن و حشـتگري را در جملـه تجـاوز اشکار از حقوق بشر نميتواند نام نهاد ؟ در برابر اين همه فجايع کدام تحريم عليه بشر و منزدور ان کرملين و نوکران شان اعمال شد ؟ آيا سازمان های دفاع از حقوق بشر در آنوقت چرا چشم پت بودند ؟ و فعلاً اين حس و بينائی را از کجا پيدا کرده که بخاطر دفاع از حقوق بشر در افغانسـتان اشـک تمسـاح مـی ريزند ؟ اين غمخواران بشـر در آن ايـا ميکه همه فجايع را بالای مردم مـا روا ميداشتند آيا خواب بودنـد يـا قـدرت اظهار را نداشتند ديپلو ماسي امريکا به ارتباط موضوع برای همـه اشـکار اسـت زيـرا مبـارزه ، امريکـا در تمـام ممـالک اسـلامي بخـاطر عليـه کسـاني است که آنهای مـی خواهند واقعاً اسلام عزيز در جهان حاکميت داشته و همين حاکميت قرآن است که تضمين کننده تمام احتياجات جوامع بشري مـی باشد و لي در مقابل مفکوره غرب و غرب گرائی بـا حـاکميت قـرآن ديگـر رونـق خـود را ازدست داده و مـورد پذيـرش متعـهد نمي باشد ولي بزور نمی شود جلو حق راگرفت استقرار. يک نظام اسلامی کـه خواست همه مردم مسلمان می باشد يک امر ضروري و حتمي تلقـي مـی شـود زيـرا مبـارزه و قربـاني مسـلمانان کشـور عزيز ما فقط همين هدف بوده است که ديگر هر گونه دسيسه و تروريزم مردم مـارا نميتوانـد از هـدف بـاز دارد ، ديگر چهره همه کسانيکه موانـع ايجـاد ميکنـد شـناخته و نقـاب هـای دريـده شده شناختن دوست و دشمن تشخيص نيک وزشت برای ما آسان شده است .

مفهوم علم اهميت . . .

بدرسـتيکه خداونـد و فرشـتگان وی ، وکسان آسمان وکسان زمين تـا مـورچه در سوارخ خـود و تامـاهی در آب بـرای تعليـم کننـده مـردم خـير را يعنـي علـم وحکمت را دعا ميکنند .

تا جائيکه خود را اموزگار معرفي نموده و بـه آن مباهات ميدارد ((انمـا بعثـت معلما))

من فرستاده شدم آموزنده دانشن .

حکم علم در اسلام

روشن است که علم دارای اقسام و شـاخه های زياد است . بجهت اينکه حکم فقهی هر يک از علوم بما واضح گردد لازم است که نخست علوم دسته بندي و تصنيف گرديده و سپس از نظر حکم مورد تحليل و ارزيابي قرار گيرد .

دانش بطور عموم بدوبخش توزيع گرديده

۱ - علوم شرعيه

۲ - علوم عقليه

الف . علوم شرعيه عبـارت از دانـش های است که مبني بروحی الهی بوده از طريق عقل و تجربه بدست نمی آيـد و اين هم به نو به خود بچهار بخش تقسيم ميگـردد اصـول ، فـروع ، مقدمـات ، متممات .

۱ اصول چهار چيز است قران ، حديث نبوي . اجماع ، وآثار صحابه .

۲ - فـروع بـر دو نـوع اسـت : اول ان چيزيکه بمصالح دنيا تعلق داشته و کتب فقه حاوي آن می باشد و دوم انچه بمصالح آخرت تعلق گرفتـه و از احوال قلـب و اخـلاق سـتوده و مذمومه بحث دارد ، علـم تصـوف متکفل ان است .

۳ - مقدمات عبارت از دانش های است کـه در واقع ابزار و وسايل برای اصـول است مانند صرف و نحو ، لغت ، بلاغت و امثال ان

ب : علوم عقليه : علوم عقليه عبـارت از دانـش هائيسـت کـه حصـول انـها موقوف به شرع نبوده ، و می توان انهارا انتها از طريق عقل و تجربه بدست آورد و آن هـم بنـو بـه بخـش هـای ، منطـق . فلسـفه ،زبـان و ادبيـات ، تـاريخ جغرافيه ، علم الاجتمـاع و سوسيولوژي ،روان شناسـي . ((سـايکالوجي)) علـوم ريـاضي ، هندسـه ، حسـاب ، الجـبر و علوم تجربي وسـاينس از قبيـل شـيمي ، فـيزيک ، و علـم الفلـک مـترولوجي . جيولوجي ، و بيالوجي ، بـا همـه شعباتش ، انـاتومي فـيزيولوجي ، پـاتولوجي . پاليانتوجي و غيره دسته بندي ميگردد .

حکم علوم شرعی

اما ازنگاه حکم آموزش علوم شرعيه به سه بخش توزيع ميگردد .

فرض عين ، فرض کفايه ، سنت

۱- فرض عين : فقهاميگويند : آموزش مقداري ازعلوم که بـه آن نيـاز و حاجت بدين می افتد فرض عين است ((واعلم ان تعلم العلم يکون فـرض عيـن و هـو بقدر مايحتاج لدينه)) بدانکه آموزش دانش فرض عيـن است وان مقدار کـه در دين باو حاجت می شود .

و آيـات ذيـل بـاين دلالـت دارد ((قوانفسکم واهليکم نارا))

حضرت علي کرم الله وجه در بيان مراد اين آيت گويد : ((علم هم ماينجون به مـن النـار)) آنـانرا مقـدار از علـوم کـه بـه سـببش از دوزخ نجـات مـي يـابند اموزش دهد .

سير زورناليزم . . .

حروف نشرات میکرد ، فوتو ها در کاغذ جلادار نشرمیشد کاغذ اخبار کاغذ درجه اول بود . کي دو اعلان در پشتي آن نیز نشر میگردید .

دومین مدیر آن پاینده محمد فرحت بود . بناغلی عبدالجبار ، سید محمد قاسم ، بناغلي غلام احمد و غلام نبي جلال آبادي و محمد حسن سلیمي . بحیث مدیران ن اجرای وظیفه کرده اند امان افغان درسال ۱۳۰۸ هنگام اغتشاش در کابل از بین رفت .

دوره بین سال های ۱۲۹۸ - ۱۳۰۷ هـ ق ۱۹۱۹ و ۱۹۲۹ م دوره ایست که در تاریخ مطبوعات افغانستان به قسم یك دوره آغاز انکشاف وسیع امور طبع و نشر روزنامه ها ، جراید و مجلات میتوان قبول کرد . جراید که غیر از امان افغان بین سالهای ۱۲۹۸ و ۱۳۰۷ نشر میگردید عبارت از اتحاد مشرقي ، الفازي ، سراج اطفال ، معرف معارف ، اتفاق اسلام ، ستاره افغان ، افغان ، طلوع افغان ، بیدار ، اصلاح ابلاغ ، ارشاد نسوان ، مجموعه عسکریه ، حقیقت ، ثروت ، آئینه عرفان ، انیس ، نسیم سحر ، مجموعه صحیه ، نوروز ، پشتون ژغ ، و جریده مکتب میباشد ، به همین ترتیب حبیب الاسلام اخباري بود که با از بین رفتن امان افغان جانشین آن شد این جریده به صورت هفته وار در سال ۱۳۴۸ ق هفده رمضان مطابق ۹ حوت ۱۳۰۷ هـ ش تأسیس شد نخستین مدیر آن بنام سردبیر غلام محي الدین بود . در چهار صفحه نشر مي شد ، هر صفحه چهار ستون داشت طول اخبار ۱۸،۵ انچ و عرض ان ۱۲،۵ انچ بود .

گرچه از نظر وضعیت اجتماعی و ناراحتي هایکه وجود داشت این دوره را یك دوره بحران و تشنج میتوان گفت ولي باآن هم چراغ مطبوعات خاموش نشده بود در کنج و کنار وطن جراید به دو شکل نشر مي شد یا به شکل پیروي از روش حکومت غالب و مرکزي و یا به شکل بر خلاف دسته سقاوي جراید که در وقت امانیه در ولایت کشور نشر مي شد مانند ، اتفاق اسلام ، طلوع افغان ، (هنگام اختشاش سویه الاسلام) بیدار (رهبر اسلام) و امثال آن به نفع حکومت غالب مرکزي ولی جرایدي چون اتحاد افغان ، د کور غم ، غیرت اسلام ، وغیره به مقصد تنویر مردم و برای نجات وطن نشر و پخش مي شد .

در خاتمه به تأسف باید گفت که وسایل ارتباط جمعی کشور در اثر تجاوز ارتش سورخ و جنگ های تحمیلي تنظیمي ازهم پاشیده و بیشتر بنیاد های تخنیکي و فرهنگي ما به خاك مبدل شده است ، اکنون که به یاري خداوند بزرگ ﷻ و رشادت و فداکاري مجاهدین اردوی اسلامي مخالفین و دشمنان خاك و مردم ما رو به شکست و نابودي هستند و در بیش از نود فیصد خاك کشور صلح و آرامش مطمئن تامین گردیده است . زمینه باز سازي و سایل ارتباط جمعی کشور بیش از پیش فراهم گردیده است . وبا گذشت هر روز زما در این عرصه به دست آوردهای ستر‌گي نایل می آیم فرهنگ ما رشد و گسترش می یابد ، گرد و غبار جنگ از روی ژورنالستان و دست اندرکاران و سایل ارتباط جمعی ما زود وده می شود تاسیسات و وسایل تخنیکي ما احیا و بازسازي گردیده ژورنالست ، فرهنگیان ، وسایل ارتباط جمعی کشور در خدمت اسلام وطن و هم وطن خود قرار میگرند .

مطابع در سراسر کشور احیا رادیو های محلي ، جراید و روزنامه ها مجدد به نشر اغاز نموده فرهنگ سچه افغاني و اسلامي در حال گسترش است ما امیدواریم که به قطع کامل جنك تمام وسایل ارتباط جمعی کشور کمپیوتري گردیده و ژورنالیزم افغانستان سیر انکشاف خود را طوریکه ایجاد می نماید بپیماید .

د وخت ارزښت

سره ډیر وخت نیسي او وچه ډوډۍ چې خیشته شي نو بیا ډیره ژر ژر خوړل کیږي . ځکه چې زه د مطالعي وړی یم چې په دي زیات وخت کې زیاته مطالعه وکړم او یا بل د ګټې څه شي ولیکم .

او دا خبره روښانه ده چې وخت ډیر د ګټې شي دی او په دي باندي علما او پوهان یوه خوله دي وخت یو داسي غنیمت دی چې فرصتونه لاس ته پکې راوړل کیږي .

نو مکلفیتونه زیات دي او وختونه ژر تیریدونکي دي .

شیخ ابن الجوزي وایی : ابن عقیل به همیشه په علم بوخت و د لوړ خیال څښتن او له باریکه مسائلو څخه به یې ژور بحثونه کول او په خپل کتاب (الفنون) کې یې خپل خاطرات او واقعات راجمعه کړي دي .

د ننګرهار ولایت د امارتي ادارو راپورتاژ ۱

درنو لوستونکو!
دادی د راپورتاژونو پدی لړ کی د ننګرهار ولایت د حکومتی ادارو راپورتاژ وار راورسید چی پدی گڼه کی لومړی برخه خپریږی او راتلونکی برخی به په راتلونکو گڼو کی خپری شی لوستل یی پر تاسو

په ۱۴۲۱ هـ ق کال کې د ننګرهار د پوهنې ریاست د اجراآتو مختصر راپور

د لوی متعال او لایزال خدای ﷻ په فضل او نصرت سره په تیر قمري کال کې د پوهنې ریاست ددې ریاست د علمي او مسلکي غړو په نه ستړي کیدونکي همکاري سره د پوهنې د مسئول په مستقیمأ رهبري سره د افغانستان د اسلامي امارت د سپیځلي او ځلنده پالیسي په رڼا کې د قرآنې او نبوي ارشاداتو د احکامو مطابق خپل امور په ښه دقیقه توګه په خپل وخت بدون د کومې وقفې د جناب عالیقدر امیرالمومنین د فرامینو د پوهنې د جلیله وزارت د وضعه شوو نورمونو او پر نسیپونود مفرداتو په نظر کې نیولو سره سره سرته رسولې چې بیلګې په لاندې توګه څرګندوو.

۱ - د پوهنې د ریاست د انتظام او انسجام حالت ته د زیربطو تعلیمي ادارو عیارول او را وستل.

۲ - د جناب عالیقدر امیرالمومنین د زیوبطو فرامینو کاملا تطبیق او وخت په وخت یې څارنه او پلټنه.

۳ - د لوړو او ذیصلاح مقاماتو د رسمي او شفاهی هدایاتو او د تصویبونو د محتویاتو په جدي توګه تطبیق اود هغې د تطبیق د عملي بڼې څارنه اوتفصیل او د نه تطبیق په صورت کې ورته په پوره حکمت لازمي لارښوونې او سپارښتنې ترسره شوي.

۴ - د پوهنې خپلو اړوندو مدرسو په تیر ۱۴۲۱ هـ کال کې د خپلو علمي او مسلکي غړو په واسطه د لایحې مطابق او له اودوهمه اصلاحی معاینه او دریم ځل لایحوبی تفتیش ترسره کړې دی همدارنګې د مرکزي او اطرافي دیني او عصري مدرسو د اداري او تدریسي چارو د انسجام او کنترول په غرض په مختلفو وختونو کې د ټولو مدرسو څخه د پوهنې رئیس او معاونینو وخت په وخت لیدنه کړې ده.

په خاصه توګه د لیلیه مدرسو د طالبانو حالت د ښه والي او تنظیم په خاطر مو مدرسي بررسي کړې دي.

۵ - ددې لپاره چې د اړوند مدرسو نیمګړتیاوي پوره شي نو د پوهنې ریاست په میاشت کې ددیني مدرسو د مسئولینو لپاره د هري میاشتي په لسم تاریخ دعصري مدرسو د امیرینو لپاره په پنځلسم تاریخ باندي په ریاست کې مجالس دائر کړې دي.

همدارنګه په تیر کال کې مو د خپل تشکیل په کتنه په دیارلس والسوالیو کې د پوهنې مدیریتونه فعال کړي او ددیني مدرسو فارغ علما کرامو د مدیرانو په حیث مقرر کړي دي او د پوهنې وزارت د کار لایحې مو ورته ورکړې. او هم دغه مدیرانو لپاره په هره میاشت کې په شلم تاریخ مجلس

دائر کړی دی او د پوهنې وزارت لایحې مقررات ، ورته تشریح شویدي .

۶ - د پوهنې ریاست په تیر کال کې د خپلو مدرسو د یو تعداد کانتینونو او یوه اندازه زراعتي ځمکو په اجاري ورکولو سره درې سوه دوه اویا ۳۷۲ منه غنم یو سلو شپیته منه جوار او ۱۵ منه وریجې لاس ته راوړې او همدارنګه د مرکزي اته مدرسو دکانتینونو د لاري مو پنځه اتیا میلون او پنځه سوه زره ۸۵۵۰۰۰۰۰ افغانی لاسته راوړې اود ځانګړي حساب د لاري مو د مراحلو د طی کولو نه وروسته په بانګ کې تحویل کړي او په تعمیراتي بخش کې مو د خوږیانو په ولسوالۍ کې د یو مدرسې تعمیر د یوې خیریه موسسې په تمویلولو سره په پاخه او اساسي توګه جوړ کړې او ورسره ضمناً مو قابو د دیارلس تعمیرونو دبیا ترمیم کار رداکار د خیریه موسسې پواسطه تر سره کړی .

۸ - همدارنګه یو شمیر تعمیرات ددیني مدارسو چې په زیات فیصدي یې کارونه نیمګړي پاتي وه د لوړو او ذیصلاح امارتي مقاماتو په منظوري او امارتي بودجه مو د پما د نقشو د ډیزاینونو مطابق بشپړ کړي او طالب العلمانو د تدریس زمینه یې مساعده شوې ده .

۹- او همدارنګه د ضرورت په بنا مو خدماتي تجهیزات اړوندو تعلیمي ادارو ته په خپل وخت برابر کړي اود توان مطابق مو د هغوی مشکلات حل و فصل کړي اود انکشافي پلان لپاره مو د نوی کال لپاره د یوشمیر مدرسو د تعمیراتو د جوړوني او بیا رغوني ساختماني پلان رسماً د پلان ریاست ته استولي اودا پروسې جریان لري .

۱۰ - د پوهنې ریاست پخپلو اړوند مدرسو کې د تشکیل په کتنه او د ضرورت په بنا ۱۹۶ تنه جدید التقرر استاذان پس له هغه مقرر کړي دي چې د تقرر ټول مراحل یې د اسلامي امارت داصولو مطابق طی کړي دي .

همدارنګه مو په خپلو مدرسو کې ۳۵۹ تنه سابقه لرونکي استاذان تبدیل او مقرر کړي دي ، او همدارنګه مو ۵۳ تنه اجیران په مدرسو کې مقرر کړي دي .

۱۱ - او د خپلو اړوند منسوبینو استاذانو او ماموړینو مو د ترفیعاتو ۳۵۰ سجلونه خانه پوري او اجرا کړي دي .

۱۲ - د پوهنې وزارت د هدایت سره سم په دغه ریاست کې د زون په سطحه د جدید التقرر دیني مدرسو د فارغانو او خصوصي زدکړو د طالبانو لپاره د ارزیابي کمیسیون فعال کړی دي چې داړوند اعضاؤ په ګډون په اونۍ کې یوه ورځ دوشنبې په ورځ غونډې کړي چې په دغه کمیسون کې مو دیني خصوصي زدکړو او دیني مدرسو د جمله ۲۱۹ تنه فارغانو ارزیابي کړي ده البته د پوهنې وزارت د لایحې سره سم .

۱۳- د اړوند مدرسو لپاره مو په ریاست کې د خپلو امکاناتو څخه تقریباً (۱۵۰۰۰) ورقې نتایج او (۵۰۰۰) ورقې طریقه تعلیمونه او په همدې تناسب شقې د ګټنز په توسط تکثیر او توزیع کړي دي .

۱۴- په تیر کال کې د خپلو اړوند ادارو د اجراآتو په ترڅ کې (۱۱۲۰) رسمي مکتوبونه په مرکزي رسیداتو کې او (۲۹۹۵) مکتوبونه د پوستې په رسیداتو کې او (۲۷۸۵) مکتوبونه د شهري پوستې په رسیداتو کې او (۲۶۳۷) مکتوبونه د تحریراتو په صادره او وارده کې اجرا شوي دي .

۱۵ - په تیر کال کې مو جمله ۲۲ بابه دیني او عصري مدرسې او دارالحفاظونه تاسیس کړي دي .

د خپلو اړوند مدرسو د معاشاتو او نورو ضروریاتو د رفعې د منظور په خاطر مو د خپل تخصیص او بودیجې داړوند فصل او باب څخه په ټول کال کې ۲۸۱۰۳۹۹۶۰۰۰ افغانی مصرف کړي دي .

همدارنګې مو د لیلیه مدرسو د طالبانو د اعاشې لپاره ټولې ۱۰۹۸۸۰۶۶۰۰۰۰۰ افغانی د بانک څخه ایستلې دي چې ددې څخه ۸۳۴۸۸۳۵۰۰۰ افغاني اعاشه توزیع شویده او ۲۱۳۰۹۱۵۰۰۰ افغانی د عالیقدر امیرالمومنین د فرمان په اساس وزارت ته انتقال شوي دي . او ۵۰۰۸۵۰۰۰۰ افغانی مو د ختیځ زون تنظیمه ریاست د محترم مقام د حکم سره سم ددې ولایت بانک ته بیرته تحویل کړي دي .

د یادونې وړ ده چې په دې ولایت کې ټولې ۳۴ مدرسې لیلیه لرو چې په دغه مدرسو کې ۲۶۸۰ لیلیه طالبان منظورې لرو چې د عالیقدر امیرالمومنین د منظوري په اساس ورته اعاشه توزیع کیږي چې د اعاشې څخه پاتي مبلغ د

عالیقدر امیرالمومنین د فرمان مطابق دري ربعي د پوهنې وزارت ته انتقال شوي دي او یوه ربعه دننګرهار ولایت محترم مقام د منظوري څخه پس ددې ریاست او مدرسو په اړوند ضروریاتو کې مصرف کیږي چې د مصرف اسناد یې د ریاست سره موجود دي او په ټول کال کې چې په دري ربعي څومره مبلغ وزارت ته د ولایت د لاري د رسمي مکتوب په توسط انتقال شویدي هغه مخکې ذکر کړي شوه .

دطالب علمانو دعلمي اوتربیوي سطحی د لوړولو او هغوی ته د سالم ادبي جرائت ورکولو په منظور مو د رسمي تعلیماتو د ښه تطبیق ترڅنګ ، په مرکز او ولسوالیو کې د هري دورې په مناسبت ذهني سیالۍ د ښه صمییت په فضا کې ترسره کړي او ممتاز طالب العلمانو ته مو مکافات برابر کړي او د ښه تشویق او ترغیب په خاطر مو پرې نازولي او طالب العلمان مو هڅولي تر څو راتلونکي کال ته د هغوی وزیار ایستلو او کوشش کولو باعث وګرځي تر څو په علمي او ادبي کچ کې زیاتوالی راشي .

۱۷ - د خپلو مجربو او ورزیده استاذانو ښه استعداد په لرلو سره او د هغې د کلني ، میاشتني ، او ورځني تعلیمي پلانونو په درلودلو سره مو د ښه میتود او اصول تدریس په ترڅ مو قابو یولس سوه تنه فارغ کدرونه جامعی ته وړاندي کړي او زیات شمیر د فیصدي په نظر کې نیولو سره ددې ولایت فارغان د لوړو او عالي تعلیماتو د سرتې رسولو لپاره مختلفنو موسسو ته د کانکور په ازموینه کې بریالي شوي او قابو دري سوه ۳۰۰ تنه د حفظ په څانګه کې حافظان فارغ کړي او جامعی ته مو د نور تعلیم د حاصلولو لپاره تقدیم کړي .

۱۸- د یادونې وړ ده چې ددې ریاست په تشکیلاتي چوکاټ کې ۳۹ نهه دیرش بابه ثانوي عصري مدرسي دوه بابه مسلکي مدرسي ۴۴ بابه متوسطي عصري مدرسي ، ۲۷ بابه د سواد زده کړې کورسونه او لله الحمد ۶۶ بابه دیني لیلیه او نهاري مدرسي او دارالحفاظونه لرو چې قابو نهه نوي زره اودري سوه طالب العلمانو ته د دري زره او څلور دیرش تنه مجربو استاذانو له خوا یې د تدریس چاري پرمخ ځي او همدارنګه یو دارالایتام هم په مرکز کې فعال لرو چې د مجاهدو شهداؤ معصوم یتیمان پکې زده کړي کوي .

۱۹ څورمه ترڅنګ چې کوم شخصي مدرسي د موسساتو او یا شخصي افرادو له خوا تمویلیږي ټول فرامني او رسمي هدایات مو ورباندي په پوره حکمت سره عملي کړي او د پوهنې وزارت سره د پروتوکول نه بعد مو ورته د فعالیت اجازه ورکړي او د اصولو چوکاټ ته مو داخل کړي او همدارنګه د شخصي کورسونو حالت مو د امارتي قوانینو په چوکاټ کې عیار کړي او د قانوني مراحلو د طی کولو نه بعد مو ورته د فعالیت اجازه ورکړي .

۲۰- او همدارنګه دغیري امارتي تعلیمي موسساتو مسئولینو سره مو په مباشت کې یو ځل اهم موضوعات مطرح کړي او د جناب عالیقدر امیرالمومنین فرامین مو ورته تشریح کړي او د تطبیق جدي غوښتنه مو ورڅخه کړي چې کاملاً یې په تحریري توګه د تطبیق ډاډ راکړی .

دننګرهار د کلیو د پراختیا او بیا ودانولو ریاست

چې په پرتو میشته کلیو کښې د کلیوالو دپاره د خدمت او د هغوی د ژوند د هر اړخیز انکشاف او ودې په خاطر ایجاد شوی لاندی فعالیتونه یې په دوه کلونو کښې ترسره کړي چې د یادولو ورد.

الف : د ابو رسولو او محیطي حفظ الصحی په برخه کښې

۱ - د کوټ په ولسوالي کښې د ۵۰ څاګانو ایستل چکونه



د کرستیناروکا د پالیسي وینا په ښکاره توګه د هندوستان عظمت طلبه هندوانو ته امتیاز ورکوي. او د هندوستان نوي نړیوال حیثیت ته د ښه رول لوبولو بلنه ورکوي د پالیسي په وینا کې ویل کیږي چې هند باید د منطقې د لاټجو او کړکیچونو په حل کې د مسولیتونو سرته رسیدل ومني.

امریکایان په دې هیله دي چې د کشمیر د مسلې د یوه نمیګړي حل په رامینځ ته کولو سره هندوستان د ملګرو ملتونو د امنیت د شورې په مستقل غړیتوب ومني او په مقابل کې هندوستان هم د چین پر خلاف د یوه ګمارلي محاذ د رول لوبولو ته چمتو دی. په داسي حال کې چې هندوستان د کشمیر په هکله د امنیت شورای د پریکړې تخلف کوونکي دي خو دغرب لپاره دغه اصل مغیار نه دی او دوي د ګټو په راکړه ورکړه کې د هر ډول شرمونکو معاملاتو تر سره کیدو ته اماده او تیار دي.

څرنګه چې دامریکا د نوي اسیا یی پالیسي عمده محور دچین محاصره ده نوممکن پر اسلام اباد باندي هم له پیکنګ سره د اړیکو د پاللو پر سر فشار وارد شي.

خو پاکستان غواړي خپلې اړیکي له چین سره د پنځوس کلنې سفارتي ملګرتیا په چاپیریال کې نوزي هم پیاوړي او مظبوطي کړي.

د پاکستان د بهرني سیاست ددغه اصل د انحراف لپاره کیدای شي امریکا او غرب داقتصادي فشار لاندي نړیوال بانک او نړ یوال وجهی صندوق د پاکستان د واجب الادا قرضونو په هکله ناندریو ته وهڅوي.

پخوا امریکا یانو تر زیاتي اندازي پوري د پیکنګ او اسلام اباد له دوستانه اړیکو څخه د خپل ځان په ګټه استفاده کوله خکه چې واشنګټن مستقیما له پیکنګ سره اړیکي نه درلودي او په منطقه کې ماسکو د واشنګټن د یوازني رقیب او سیال په توګه مطرح وو.

کچیرته په هماغه وخت کې د ماسکو او پیکنګ ترمینځ دغرب د مفاداتو پر خلاف د ګډې همکاري روحیه رامینځ ته شوې وایی نوامریکایان له یوه لوی تاوان سره لاس او ګریوان وو.

واشنګټن اسلام اباد په هماغه وخت کې له چین سره د غیر مستقیمو اړیکو لپاره استعمال کړ او په دې بریالی شو چې چین د پخواني شوروي اتحاد په څنګ کې د ناټو او واشنګټن په خلاف ونه دریږي.

خو په اوسني وخت کې چې چین د یوه نوي اقتصادي او پوځي قوت په توګه د نړۍ پرسټیج ولاړ دی ممکن د یوه اسیا یی قوت په توګه د امریکا اجاره داري او اربابي ته چلنج ورکړي او هم د اسیا په لویه وچه کې د امریکایی او اروپا یی عصري تولیداتو بازار له رکود، سړیدو او دریدو سره مخامخ کړي.

دا هغه ویره ده چې د غربیانو او امریکایانو پر زړو او اعصابو یې وزر غورولی دی.

خو یو څل بیا د اسیا د سیاسي حالاتو په اړه د محوري او حادثه زیږونکي هیواد افغانستان په هکله د بحث واګي په لاس کې نیسو. افغانستان چې د اسلامي هویت په موندلو سره یې په پرله پسي توګه غربي مفادات تر کلك ګوزار لاندي نیولي دي په اینده کې هم د جنوبي اسیا د مسلمانانو د توجه او پاملرني وړ هیواد دی.

امریکایانو د بش د حکومت له پیل څخه خپل هغه ټول تحرکات چې د افغانستان پر خلاف به یې کول په تبلیغاتو او منفي پروپاګنډ پوري مسخر کړي دي داسامه بن لادن غوغا اوس یوه اړخ ته شوي ده او دنیا پوهیږي چې امریکایان په دي هکله له ظلم او ناروا څخه کار اخلي او صرف د خپلو مخالفینو په وړاندي په جهاني سویه له دولتي تروریزم څخه کار اخلي.

دتیر کال په وړاندي سړ کال د افغانستان د خلکو لپاره د بشري مرستي اندازه تر پخوا زیاته شوي ده که څه هم د ۴۳ میلونو ډالرو مبلغ زیاتره د امریکایی موسسو لخوا صیف او صیل کیږي خو بیا هم عددي لوړتیا د امریکا د نوي دریځ د بدلون ښنه ده.

د افغانستان له اسلامي امارت سره د سپینې مانۍ سیمه ایز دیپلوماتان اړیکي پیدا کوي. چې دا هم یوبدلون دی.

ه ایښودل ۵۰ صفحی جوړول او ۵۰ لاسي پمپونه نصبول د یوسف د اداري په مالي او تخنیکي مرستي .

۲ - د سرخرود په ولسوالی کې د ۱۰۰ خاګانو ایستل ، چکونه ایښودل ، ۱۰۰ صفحی جوړول او ۱۰۰ پمپونه نصبول د یونسف په مالي او تخنیکي مرستي .

۳ - د سرخرود په ولسوالي کې د ۲۰۰ بابه بیت الخلاوي جوړول د نمونې په شکل په نور کلیوال د هغه نه ځانته کاپي کړي د یونسف په مالي او تخنیکي مرسته .

۴ - د مومند دري په ولسوالي کې ۵۰ کوهیان کیندل ، چکونه ایښودل ، ۵۰ صفحی جوړول او لاسي پمپونه نصبول د یونسف په مالي او تخنیکي مرسته .

۵ - د جلال اباد په ښار کښې ۲۰ نیمه عمیق ځاګاني د برمي په واسطه کیندل او لاسي پمپونه پکښې نصبول د یونسف په مالي او تخنیکي مرسته .

۶ - د بهسودو په ولسوالي کې ۲۰ نیمه عمیق ځاګاني کیندل او ۲۰ لاسي پمپونه پکښې نصبول دیونسف په مالي او تخنیکي مرسته .

۷ - د خوګیانو په ولسوالي د زاوي په کلي کې د خلګو د ضرورت په اساس او د یونسف په مالي لګښت په طول د ۱۱۰۰ مترو کښې د چینې نه تر کلي پوري پایپ غزول او دري د اوبو ډګي جوړول چې همدا اوس د خلکو د استفادې وړ دي او کلیوال د پاکو او صحی اوبو نه استفاده کوي .

همدارنګه د کلیو د پراختیا او بیا ودانولو ریاست د اسلامي امارت د بودجې نه د خلګو دپاره د اوبو رسولو په برخه کښې دالاندې فعالیتونه ترسره کړي دي .

۱ - د ډکي په ښار کوټي کښې دیو عمیق څاه کیندل چې ۱۰۰ متره ژوروالي لري او ۵۵ متره اوبه پکښې دي چې په مکمل اواساسي ډول سره جوړ شوي او جنراتور ورته لګیدلي او ۴ انچه پمپ پکښې نصب دی چې ټول مالي لګښت یې د اسلامي امارت د انکشافي بودجې لخوا تمویل شوي او رسماً د تورخم ښاروال ته تسلیم شویدی چې ټول مالي لګښت یې څلور لکه او دیرش زره پاکستانی کلداري کېږي .

۲ - د لغمان په ولایت کښې د شلمي فرقي کوهی .

کوهی د ننګرهار ولایت د کلیو او پراختیا او بیا ودانولو د ریاست د برمي په واسطه ددغه ریاست د فني پرسونل لخوا کیندل شوي چې ۳۷ متره ژوروالی لري چې واټر پمپ او جنراتور ورباندي نصب شوی او یوه لویه ډکي د اوبو ذخیري په خاطر ورباندي جوړ شوي چې د شلمي فرقي د اوبو مشکلات پري حل کیږي او مالي لګښت یې د اسلامي امارت د بودجې نه تمویل شوي .

همدارنګه د شنوارو په لویه ولسوالي کښې ددغه ریاست فني او تخنیکي پرسونل په ۱۴۱۹ کال کښې د UNDCP موسسې په مالي لګښت د خلکو د ضرورت د رفع کولو په خاطر ۲۰ کوهیان حفرچك ریزي او ۲۰ لاسي پمپونه پکښې نصب کړي چې همدا اوس د خلکو د استفادې وړ دي .

ب : د ساختمان په برخه کښې :

۱ - په تورخم کښې د مهاجرینو د سبت او راجستریشن دفتر: دغه دفتر چې تورخم بندر ته نږدې دی ننګرهار د کلیو د پراختیا او بیا ودانولو د ریاست د فني اوتخنیکي پرسونل په زیار او هاند سره جوړ شوی په ۱۵۰۰ متر مربع ځمکه کښې د UNHCR د موسسې په مالي مرسته جوړ شوي چې پنځه د استراحت کوټې چې هره کوټه یې ۶.۵۴ مترو کښې مساحت لري او دوه اداري دفترونه لري چې هر یو یې ۴۰۳ متروکښې دی همدارنګه د خلګو او مهاجرینو د ضرورت د رفع کولو په خاطر پنځه بیت الخلاوي چې دري پکښې ښځینه او دوه پکښې د نارینو لپاره دي چې په بیلو بیلو ځایونو کښې په پاخه او اساسي ډول سره جوړ شوي او د اوبو نلونه پکښې غزیدلي چې هغه مهاجرین چې نوي هیواد ته راځي ټول مشکل یې حل وي او دا تعمیر ۱۶۰ متره دیوال د احاطي لري چې په پاخه او اساسي ډول سره جوړ شوي اود ننګرهار د مهاجرینو ریاست ته رسماً سپارل شوي دي . ددې تعمیر لګښت ۱۵۰۰۰ امریکائی ډالره شوي .

۲ - په شینوارو کښې د عمومي کانال په شیر کې د یوسیفون ترمیمات :

دغه سیفون چې د جنګونو په دوران کې څو ځایه سوري شوي ؤ او مکمل درزونه کړي ؤ د UNDCP د

موسسې په مالي لګښت ترمیم او پاسنۍ برخه یې چې یو لوی خونړی قرار درلود. هم ترمیم شوي او کومې اوبه چې د کانال نه بې ځایه بهیدلې کاملاً مخ نیوی یې شوي او عملاً داستفادې وړ دي او د خلکو مشکلات حل شوي.

۳ - د کانفرانسونو تالار د ننه د ریاست په انګړ کښې:

دغه مرکز چې دري کوټې لري چې یو یې د کانفراسونو کوټه ده چې ۹ متره اوږدوالی او ۶ متره سور لري او یوه بله کوټه یې چې ۳۰۴ مترو کښې جوړ شوي چې د تحویلخانې حیثیت لري او بلاخره یې چې هغه هم ۳۰۴ کښې د ORT کارنر په نامه دي چې په پاخه او اساسي ډول سره جوړه شوي او مالي لګښت یې د یونسف د اداري لخوا تمویل شوي.

ددې مرکز د جوړیدو هدف په شرقي زون کښې د کلیو د پراختیا او بیا ودانولو د ریاستونو د فني او تخنیکي پرسونل د مهارتونو د لوړوالي د ترننګونو، ورکشاپونو، سمینارونو او کنفراسونو په دایرولو سره صورت نیسي همدارنګه د فني زده کړې په خاطر د مختلفو کوهیانو نمونې، د چکونو نمونې. د هغې د جوړولو څو نمونې د لاسي پمپونو څو نمونې او د بیت الخلاوي څو نمونې جوړې شوي چې د سیمنارونو او ورکشاپونو ګډون کوونکي ته چې ترننګ ورکول کیږي په عملي ډول ښودل کیږي چې هر کال د څلورو یا پنځو سیمنارونو نه زیات د اوبو رسولو په برخه کښې لس الي دولس سیمنارونه د ماشومانو د حقوقو په رابطه څو سیمنارونه د تعلیم او تربیې په برخه کښې دایریږي. همدارنګه د موسسو اکثره میټنګونه هم پدې ځای کښې دایریږي.

۴ - د ننګرهار د کلیو د پراختیا او بیا ودانولو د ریاست بیا جوړونه او ترمیمات:

د جګړې په کلونو کښې ددې ریاست ودانۍ او انګړ یو څه زیان لیدلی دۍ او بعضې ځایونه یې تخریب او د ترمیم وړ دۍ چې ددې ریاست د هغو پیسو له درکه چې د موسساتو د کار له درکه بچت کړي وي بیا ترمیم او د استفادې وړ وګرځیده چې په هغه کښې د اداري تعمیر بیا جوړونه او ترکمالي. د انګړ کانکریټ کول. د دروازې او کړکۍ ګانو ترمیمات شامل دي چې ټول لګښت یې دري څلویښت میلیونه افغانیو ته رسیږي.

۵ - د ښوونې او روزنې په برخه کښې:

د ننګرهار د کلیو او پراختیا ریاست د خپل کاري پلان مطابق باید په لیري پرتو سیمو کښې چې هلته مدرسې اوتعلیمي او تربیتي مرکزونه موجود نوي کلیوالي مدرسې ایجاد شي او واړه ماشومان چې عصري مدرسو ته راتلای نه شي شامل شي او تر څلورم ټولګي پورې سبق ووایي چې ددغه خدمت د ترسره کولو په خاطر همدا اوس زمونږ د ریاست په چوکاټ کښې سل دهاتي مدارس ایجاد شوي چې اکثره استادان یې د مساجدو امامان او خطیبان دي او ددغه علمای کرامو په واسطه ددیني مضامینو ترڅنګ پښتو او حساب هم هغوی ته درس ورکول کیږي ددغه مدارسو درسي مواد د یونسف د محترمې اداري په همکاري سرته رسیږي.

د یادولو وړ ده چې د ننګرهار د کلیو د پراختیا او بیا ودانولو د ریاست په زیار او هاند سره د یونسف له اداري نه لاندې سامان الات ترلاسه شوي.

۱ - د برمې یوه مکمله دستګاه سره د ټولو ملحقاتو.
۲ - یو د هینو د متړک موټر
۳ - یو عراده پیک اپ دوسیټه موټر
۴ - یو پایه کانګریټ مکسر
۵ - د کمپیوټر مکمله دستګاه یوه پایه
۶ - د فوټو سټیټ یو ماشین
۷ - جنراتور ۱۰ کیلو واټه یوه پایه
۸ - موټر سیکل ۵ عرادي
۹ - بایسکلونه ۸ عرادي
۱۰ - بادپکې ۴ باله
۱۱ - لاسي کراچي ۵ عرادي
۱۲ - زمبیل، بیل، مارتولونه او داسي نورشیان

ربیع الاول (۵)

موسسه خیریه هبیتات در ولایت بامیان بخاطر امنیت سر تاسري به فعالیت های بشر دوستانه خود آغاز نمود

موسسه خیریه هبیتات در ولایت بامیان با استفاده فضای صلح و امنیت سرتاسري در این ولایت به کار خود آغاز نمود . خبرنگار مجله خلافت گزارش می دهد در ملاقات که محترم مولوی محمد اسلام محمدي والي ولایت بامیان همراه کارکنان و منصوبین این موسسه به عمل اورد . محترم والي ولایت بامیان درباره اغاز نمودن فعالیت های بشر دوستانه موسسه هبیتات واز توجه منسوبین و کارکنان این موسسه قدر داني نمود . واز همکاري همیشه منسوبین وکارکنان امارتي در پیشبرد فعالیت های کاري آن ها اطمینان کامل داد در ولایت بامیان موسسه هبیتات در مرکز چوکات اصلاح د راه پیشبُرد کارهای خدماتي و خدمت برای مردم رنج دیده ولایت بامیان وعده هر نوع همکاري را نمود .

ربیع الاول (۸)

لین دوم توربین فابریکه کود کیمیاوي مزار شریف فعال شد

لین دوم توربین فابریکه کود کیمیاوي مزار شریف طی جلسه برگزار شد . خبرنگار مجله خلافت خبر داد . در این جلسهٔ که به همین مناسبت در مرکز تصدي ان فابریکه دائر گردیده بود محترم قاري احمدالله ومعین وزارت معدن وصنایع وبعضي منسوبین امارتي این ولایت اشتراك ورزیده بودند . در آغاز محترم مولوی عبدالرحمن رحماني رئیس کود و برق این ولایت در باره فعال شدن این لین سخن راني نمود و گفت این توربین از چندین سال به این طرف از اثر عوارض تخنیکي از کاربانمانده بود که در اثر تفاهیم مهم تخنیکي و تکمیل پروژه های ضروري فعال گردید . وسپس محترم معین وزارت معدن و صنایع توربین دوم تکنالوژي این فابریکه را باز نمود . سپس اشتراك کننده گان از قسمت های مختلف این تصدي دیدن نمودند و در این حصه معلومات کافي برایشان داده می شد .

همچنان یك کمپیوتر که از پنج سال بدینطرف از کار افتیده بود از اثر نتیجه انجنیران و کار کنان تخنیکي دوباره فعال گردید .

ربیع الاول (۱۱)

کشور ترکیه مي خواهد که شفاخانه اخوت را اکمال نماید

کشور ترکیه می خواهد که در ولایت جوزجان شفاخانه اخوت درافغانستان- ترکیه را از لحاظ ادویه وسامان الات طبي اکمال نماید . خبرنگار مجله گزارش داد .

در ملا قاتیکه محترم ملا محیب الله اخندزاده والي ولایت جوزجان در دفتر کار خود با هیئات بلند رتبه کشور ترکیه درامور افغانستان محترم امیرامان نمود . و در باره ازدیاد روابط این دو کشور ومسائل پر علاقه صحبت نمودند .

سپس هیأت کشور ترکیه در امور افغانستان درمورد هدف سفر خود به ولایت جوزجان چنین اظهار نمود کشور ترکیه امادگي دارد که در ولایت جوزجان شفاخانه اخوت درافغانستان - ترکیه را علاوه از ادویه و سامان الات طبي چند تن از پرسونل این شفاخانه را در بخش های مختلف تحت تربیه قرار دهد .

همچنان هیات مذکور در باره اکمالات شفاخانه شبرغن وعده هر نوع همکاري کشور ترکیه را نمود .

ربیع الاول (۱۴)

یك دستگاه ستلایت در ریاست مخابرات ولایت هلمند تاسیس گردید

با تاسیس یك دستگاه ستلایت مشکلات مخابروي بعضي همشهریان ما در این ولایت حل شد . خبرنگار مجله گزارش داد در مرکز و ولایات کشور بازسازي و دوام فعالیت سیستم مخابروي در ریاست مخابرات ولایت هلمند یك دستگاه ستلایت که از طرف یك تن تجار ملي کشور امداد شده تاسیس گردید و مورد استفاده همشهریان ما قرار گرفت

دفراه ولایت لرغونی بالا حصار

دبلخ ولایت تاریخی مسجد

ACKU
DS
371.2
.A2
26

KHILAFAT

Monthly Magazine of the Islamic Emirate of Afghanistan

Est: April 1996 , Serial No 26 , Volume No 6 issue No 3 (May 2001)

دکونړونو ولایت سمسورغرونه

ربیع الاول (۱۷)

کمیته I.C.R.C . وزارت زراعت ومالداري کمک می نماید

محترم مخدوم عبدالسلام سعادت معین خدمات مالداري وزارت زراعت و مالداري در دفتر کار خود با امر پروگرام های زراعتي کمیته I.C.R.C در افغانستان ملاقات نمود . خبرنگار مجله گزارش داد . در این ملاقات درباره انکشاف ریاست عمومي صحت حیواني . پروژه واکسین سازي و در بخش زراعت و مالداري بین وزارت زراعت و مالداري و کمیته I.C.R.C در مورد امضاً پروتوکول در موارد فوق صحبت نمودند.

محترم معین وزارت زراعت و مالداري در اثر قدردانی درباره انکشاف جنگل ها و کمربند سبزتپه های اطراف شهر کابل خواستار همکاري بیشتر شدند .

ربیع الاول (۲۰)

به تعداد ۵۳ حلقه چاه اماده استفاده جوی گردید

این چاهای عمیق به کمک مالي اداره یونسف اماده استفاده گردید . در مربوطات ولسوالي میوند ولایت کندهار کار حفر ۵۳ چاه عمیق و نیمه عمیق به پایان رسید . خبرنگار مجله گزارش داد کار ترمیم (۱۱) چاه حفري و ۴۲ چاه برمه ئی که در ولایت کندهار از طرف ریاست انکشاف و بازسازي خانه ها وبه کمک مالي اداره یونسف آغاز گردیده بود به اتمام رسید .

وتحت مراسم برای استفاده جوی مردم اماده کار شد ، خبرنگار علاوه نمود . که چند تن از بزرگان و موی سفیدان از این اقدام قدر داني نمودند و این کمک بشر دوستانه را ارزشتمند دانستند .

ربیع الاول (۲۴)

د مستوفیت د کار کووونکو روزنیز کورس جوړ شو

د کابل مستوفیت مسلکي او روزنیز کورس د مالیی وزارت په تالار کې جوړ شو د مجلي خبریال خبر راکړ : په دي کورس کې د حسابي دفترونو د تنظیم د تجارتي شرکتونود څېړني . د سیالاتو د موضوعګانو د پلتني . د سیالاتو د موضوعګانو د خرڅندولو او بیانولو او د انفرادي سوداګرو د مالیاتو . د عراده جاتو او د مالیاتي حوزو ، دمالیاتو د مقررو او د کابل ولایت د مستوفیت د مسئلو په اړه ۲۵ تنه کارکوونکي شامل دي د مالیی وزارت د معین محترم مولوی عارف الله عارف له خوا پرانیستل شو او محترم عارف د مسلکي او روزنیزو کورسونو د جوړولو په باب خبري وکړي اود کورس له شاملانو څخه یې وغوښتل چې په بشپړ جدیدیت سره کورس تعقیب کړی او خپلي علمي او مسلکي تجربي زیاتي کړي دغه کورس شل ورځي دوام کوي او د لوست چاري یې د مالیی وزارت د مجربو اوسابقه لرونکو مامورینو له خوا پرمخ بیول کیږي .

ربیع الاول (۲۶)

د رسمي جریدې ۷۹۶ مه ګڼه چاپ شوېده

د رسمي جریدې ۷۹۶ مه ګڼه چې په پوهنې وزارت پوري اړوند تقنیني سندونه پکې خپاره شوي دي . نوی چاپ شوي ده د عدلیی محترم وزیر ملا نورالدین ترابي د مجلې خبریال ته وویل : په هیواد کې د اسلامي نظام تینګښت د شریعت پر بنسټ د جوړو سوو قوانینو د بشپړ تنفذ غوښتنه کوي چې الحمد الله د ضروري او مهمو قوانینو د تثبیت او چاپ په برخه کې تر اوسه پوري پراخ فعالیتونه شوي دي .

اوس د رسمي جریدې ۷۹۶ مه ګڼه چې په هغې کې د پوهنې په وزارت پوري اړوند تقنیني سندونه خپاره شوي او چاپ شوي دي .

ربیع الاول (۲۹)

د تلفون ۱۰۰ لینه دستګاه د سرپل په ولایت کې ودرول شول

د سرپل په ولایت کې د اتومات تلیفون ۱۰۰ لینه دستګاه ودرول شوه او فعاله شوه .

د مجلې خبریال خبر راکړ : د اتومات تلیفون ۱۰۰ لینه دستګاه د درولو کار چې څه موده مخکې د سرپل ولایت د مخابراتو ریاست د انجینیرانو له خوا پیل شوي وو . فعاله او ګټې اخیستنې ته وړاندي شول . دغه دستګاه د سرپل ولایت د خلګو د مخابراتي ستونزو په مقصد د بلخ د ولایت څخه لیږدول شوي او فعال شوي ده په هغه غونډه کې چې په همدې مناسبت جوړه شوي وه د سرپل والي محترم مولوی عبدالمنان حقیار دمخابراتو ریاست د انجینیرانو د کار له املې قدر داني وکړه او ددغه دستګاه فعالول یې یو ارزښتناک ګام وبالله دغه راز په نژدي راتلونکي کې به یوه پله سل لینه دستګاه هم فعاله شي .

سیرت نبوي

محمد وزیر «حامل»

مولای صلی وسلم دائما ابدا
علي حبیبك خیر الخلق کلهم
هوالحبیب الذي ترجي شفاعته
لکل هول من الاهوال مقتحم

درسول الله (ص) نیکمرغه ولادت

ابن سعد په طبقات الکبرئ کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مور اُمنی څخه روایت کوي چې دا وایی :

لقد علقتْ به فما وجدت له مشقة حتی وضعته . ژباړه : کله چې دي زما په نس شو نو له اوله تر اخره پوري ما د هیڅ تکلیف احساس ندی کړی .

ابن سعد له دي څخه بل روایت کوي چې دا وایی : اتاني أتٍ و انا بین النائم و القیظان هل شعرتَ انك قد حملت بسید هذه الامة وبنیها . ژباړه : د ویښتیا او خوب په منځنی حالت کې وم چې یو څوك راغی ، (ملایکه) هغي وویل : ایا ته پوهیږې چې ته به ددي امت د سردار او نبي مور جوړیږې ؟

امام قطلاني او ابونعیم الاصفحاني وایی چې حضرت امنی ته په خوب کې ویل شوي و چې ددي مبارك مولود نوم به دي محمد (ص) وي څکه په تورات او انجیل کې دده نوم احمد دي د اسمانو او ځمکو ټول مخلوق دده صفتونه کوي او په قران کې چې دده کتاب دی به یې نوم محمد وی .

دی د خپل پلار عبدالله بن عبدالمطلب له مرګه څو میاشتي وروسته د دوشنبي په ورځ د لومړی خور (ربیع الاول) په دولسمه د فیل په کال پیدا شو چې د میلادي کال ۵۷۱ ع د اپریل د میاشتي ۲۲ کیږي .

امام بهیقي ، طبراني ، ابونعیم ، ابن عساکر رحمهم الله تعالی له عثمان ابن ابي العاص څخه روایت کوي دی وایی ماته خپلې مور ویل چې زه په هغه ورځ چې رسول الله پیدا کیده له امنی سره ناسته وم ما به چې هرشي ته کتل نو نور به پري پروت و ، ستورو ته مې کتل چې مور ته را نږدي کیدل او دومره را نږدي شول چې زه وویریدم هسي نه چې پرې را ولویږي کله چې دی پیدا شو نو ګواکي یو نور ؤ چې ټوله خونه یې روښانه کړه .

ما به چې هري خواته کتل نو نور به راته ښکاریده . ابن سعد په طبقات کې د امني روایت را اخلي چې دا وایی : د ولادت په مهال ما داسي محسوسه کړه چې ګواکي یو نور مې له بدنه ووت چې د هغه په رڼا یې کې مې د شام مانی هم ولیدي . او د پیدایښ په مهال دي بلکل پاك سوتره ؤ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیدایښ په مهال د هغه خورا زیات معجزات ښکاره شوي دي د سیرت کتابونه پري ډك دي او په تیره امام جلال الدین السیوطي په دې اړه خورا زیات او عجیب روایات اخیستي دی .

د رسول الله (ص) د نوم (محمد) تحقیق

مخکې مورِ وویل چې امني ته په خوب کې دا نوم ښوول شوي وه دا توري په اصل کې د حمد له توري اخیستل شوي دي چې د هغه معنی ثنا ویل او . صفت کول ده دا صفت کله د ظاهري خوبي کیږي او که د باطني . نو د محمد لفظ د اسم مفعول صیغه ده یعني هغه اسم دی چې په هغه باندي کار واقع شوي وي نو د محمد معنی هغه ذات چې په کثرت سره او بار بار یې ستاینه شوي وي امام راغب الاصفحاني په (المفردات لغریف القران) کې وایی : ومحمد اذا کثرت خصاله المحموده . ژباړه : محمد هغه چاته ویل کیږي چې د هغه ښه خویونه له حده زیات شي دي (ص) په دي نامه سره په قرانکریم کې څلور ځایه یاد شوي سوره الفتح ایت ۲۹ محمد رسول الله والذین معه ... سورت محمد ایه "۲" والذین امنو وعملو الصلحات و امنو بمانزل علی محمد" ۳ " ال عمران ایه ۱۴۴ و ما محمد الا رسول قد خلت . سورت الاحزاب ایه "۴۰" ماکان محمد ابا احدمن رجالکم ولکن رسول الله وخاتم النبین .

رسول الله (ص) هغه انسان دی چې پیروان او مخالفین یې ټول په دي قانع دي چې دی داخلاقو مجسمه وه . دده صفتونه به د نبوت د دربار له شاعرحسا بن ثابت څخه واورو :

واحسن منك لم ترقط عیني

واجمل منك لم تلد النساء
خلقتَ مبرءاً من كل عيب
كانكَ قد خلقتَ كما تشاء

رسول الله (ص) په ظاهر اوباطن دواړو ښکلی و لکه ده به چې دا دعا کوله :
اللهم احسن سيرتي كما احسنتَ صورتي .
دده مبارك د صفتونو په اړه رحمان بابا هم ښه خورا مختصرخو له معنی ډك شعر ویلی دي .

خدای يې مه بوله بيشكه چې بنده دی
نور همه واړه صفات يې په ربښتيا

د رسول الله صلی الله علیه وسلم فضایل

دلته به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په فضائلو باندي په لنډ ډول وګړيږو .
دده د فضائلو له پاره همدا ایت شریف کافي دی چې لوی څښتن ورته وایی :
وكان فضل الله عليك عظيما . ای نبي په تا باندي د الله پاك عظيم فضل دی .
نامتو امام او سيرت ليکونکی قاضي عياض ددي ایت شریف په تفسير کې وایی :
حارت العقول فی تقدير فضله و خرست الالسن دون وصف يحيط بذلك . ژباړه : په رسول الله (ص) باندي چې د الله پاك څومره زيات فضل دی د هغه په اندازه کولو کې عقلونه حيران دي او ژبې ګونګی دی . د امت پوهان او علماء په دي متفق دي چې د رسول الله فضائل او محاسن له شميره وتلي دي .
د سيرت او صورت دواړه صفات په رسول الله (ص) کې په مکمله توګه موجود وه ملا علي قاري په جمع الوسائل فی شرح الشمائل کې ليکي :
د يوه مسلمان ايمان تر هغه وخته پوري نه مکمل کيږي څو چې دا عقيده ونلري چې بې له شکه رسول الله(ص) په ظاهري او باطني کمالاتو کې له هرچا زيات وه امام شهاب الدين القطلاني ليکي : دا خبره قطعی او يقيني ده چې د ايمان د تکميل له پاره دا عقيده ضروري ده چې د رسول الله (ص) سپيځلي مبارك بدن خدای ﷻ دومره ښکلی کړی دی چې له ده څخه مخکې او وروسته بل انسان دده په څير ښکلي نشته .
امام عبدالرؤف مناوي په شرح الشمائل او فيض القدير کې . ابن صجرالمکي په جواهر البحار کې دا ډول تصريحات کړي دي .
د خواړه پيغمبر حسن او ښائست دومره زيات ؤ چې علما ليکي دده ټول حسن او جمال په مکمله توګه چاته نه و ښکاره شوي . لکه نامتو مفسر امام القرطبي چې ليکي : دده ټول حسن موږ ته ندی ښکاره شوي ځکه کې ټول حسن يې ښکاره شوي وای نو زموږ په سترګو کې بيا دومره ځواك نه و چې هغه يې ليدلی وای .
دا راز ملا علي قاري هم ليکلي دي چې دی صحابه کرامو په مکمله توګه نه وليدلی ځکه کې دده ټول حسن ورته ښکاره شوي وای بيا هغوی نشوای ګولای چې ليدلی يې واي .
د هغه مبارك مخ ځينې صحابه و له شپږمې سره تشبيه کړي چا له لمر سره او چا هم له ځليدونکي ستوري سره له حضرت عائشي (رض) څخه ابن عساکر روايت کوي چې هغه وايی زما څخه په يوه تياره شپه کې ستن ورکه شوه نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارك مخ مې لوڅ کړ او د هغه په رڼايی کې مې ستن پيدا کړه .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم اخلاق

د رسول الله د غوره اخلاقو له پاره همدا يو ايت شريف کافي دی چې لوی خدای ﷻ فرمايی : انك لعلى خلق عظيم .
ژباړه : بيشكه چې ته (ای محمده) د لويو اخلاقو څښتن يې په مسلم او ابوداود کې يو روايت راځي چې کله له عائشي صديقي (رض) څخه د رسول الله (ص) د اخلاقو پوښتنه وشوه نو دي ورته وويل : كان خلقه القران ـ يعني دا قران دده اخلاق وه قاضي عياض مالکي وايی چې له الله پاك څخه پرته بل هيڅوك نشي کولای د رسول الله پوره اخلاق بيان کړي . دی وايی د رسول الله (ص) په محاسنو اخلاقو او ښو خويونو کې د محنت او کسب څخه دخل نشته بلکه دده غوره اخلاق ټول فطري وه . په موطا امام مالك کې له رسول الله (ص) څخه روايت دی چې فرمايی : بعثت لأتمم مكارم الاخلاق . يعني زه ددي له پاره مبعوث کړل شوی يم چې مکارم الاخلاق او غوره اخلاق پوره کړم .
هغه د غوره اخلاقو ټول انواع پوره کړي وه ، حلم او ښښنه . صبر او استقامت . جود او سخا . عدل او انصاف ، ميرانه اواستقلال ، شرم او حيا . مينه او رحمت ، وعده پوره کول او خپلوي پالل ، تواضع او عاجزي . ربښتيا او ايمانداري ، ايثار او ميلمه پالنه . زهد او قناعت . سادګي او بې تکلفي

ادب او ښه رويه لنډه دا چې ددې ټولو غوره اخلاقو يوه مجسمه وه او ددې هر يوه ښه خلق او نيک عادت بيلګې او مثالونه يې د سيرت په کتابو کې راغلي دي خو په دې لنډ او تنګ وخت کې به مونږ کومه يوه بيان کړو .

په عربي کې يوه مقوله ده . والفضل ماشهدت به الاعدا . يعني د يوه چا فضليت او بهتري هلته ښه معلوميږي چې دښمن يې شاهدي ووايي : په دې اړه د رسول الله (ص) د صداقت او رينتونولي اخلاقو اوفضائلو اقرار او اعتراف د هغه په ژوند کې هم ددې دښمنانو کړې دۍ او ده ته يې د امين او صادق لقبونه ورکړي وواو دا لږ تر اوسه پورې را رانه ده نن هم په غرب او امريکا کې داسي پوهان شته چې د پيغمبر (ص) لوړ شان په سر سترګو مني ډاکټر مائکل هارټ يو کتاب ليکلی چې (يوسل) نومياړي په دې کتاب کې ليکوال د اتول انساني تاريخ سل کسان را خيستي دي هغه سل کسان چې په تاريخ باندې يې تر هر چا زيات اثرات اچولي دي او دنړۍ په تاريخ کې تر ټولو غوره انسانان تير شوي دي . ددې کتاب ليکوال په مذهب عيسايی دی اود علم له پلوه سائنس دان دی نو که د مذهب له نګاه نه يې د لومړيتوب حق چاته ورکولای هغه بايد عيسی ددې سلو کسانو په لومړۍ درجه کې راوړی وای او که د تعليم او پوهی له نګاه نه وای بايد ددې کسانو په سر کې يې د سائنس موسس نيوټن راوړی وای خو ښاغلی مائکل هارټ نه عيسیٰ ؑ ته د لومړيتوب حق ورکړی او نه هم نيوټن ته بلکې د خپل کتاب په لومړۍ درجه کې يې حضرت محمد مصطفی (ص) راوړی دی . دی په خپل کتاب کې ليکي چې ممکن ځيني خلك له ما خپه شي چې ولې دي عيسیٰ ؑ يا بل او بل د کتاب په سر کې ندی راوړی خو دي وايی چې ما داسي ځکه ونکړل چې حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د ګرد بشري تاريخ يواځنی شخص دی چې هم په مذهبي سطحه او هم په دنيوي سطحه په مکمله توګه کامياب شخصيت تير شوي .

ده چې په بشري تاريخ کوم اثرات اچولي دي تر اوسه پوري بل انسان نه مخکې او نه وروسته دده ځای ته رسيدلی دی . دا راز د نوي نړۍ زښتو زياتو پوهانو دده په لوړ والي باندې اعترافونه کړي دي .

نو ګرانو لوستونکو حضرت محمد (ص) د انسانيت هغه ستر محسن دی چې تاريخ يې ساری نلري هغه بشريت له زياتو هلاکتونو ځخه ژغورلی او د ابدي او تلپاته نجات لاره يې ورته ښوولي ده کومو انسانانو چې دده لاره تعقيب کړي وه هغه د صحابه کرامو ټولی ډ هغه داسي ټولی ډ چې تر ننه پوري د بشريت تاريخ د هغه مثال ندی وړاندی کړی . ترڅو پوري چې مسلمانان دده په لاره روان وو نو په دنيا کې يې برم او عزت په برخه ډ خپله څه چې د نورو انسانانو رهنمايی يې هم کوله بيلاري او منحرف بشريت يې د فلاح او نجات لوری ته سوق کاوه .

خو کله چې مسلمانان دده له لاري ځخه کاږه شول او نوري لاري يې غوره کړې نو نن کوم ذلت کومه بدمرغي نشته چې په دوی دي نه وي نازلي شوي . نن چې اسلامي نړۍ له کوم ذلت او سپکاوي سره مخامخ ده او څومره ددښمن په خونړيو او بې رحمه پنجو کې را ګير ده له دې ستونزې ځخه د خلاصون لاره يې هماغه ده چې مسلمان امت بايد بيرته د قرآن او سنت نبوي پيروي ته را وګرځي . هغه لاره بايد تعقيب کړي چې خواږه پيغمبر (ص) ښوولي ده او که نه نو خدای ﷻ دي نکړي دا روانې بدمرغی به نوري بد مرغی هم وزيږوي . دا روان اختلافات به لاپسي پلن شي دا سپکاوی به لاپسي شرمونکی شي .

(وصلی الله علی سيدنا وحبيبنا محمد وعلی اله وصحبه ومن والاه اجمعين امين)





بيت المال

محمداغا (ضيا)

حضرت عمر (رض) چې په دارالخلافه او د ټولو ولياتو پر مرکزي خايونو کې د بيت المال اداري جوړې کړې د بيت المال حساب او کتاب او د ساتني لپاره يې دينداره او امين کسان تعينول ، د هر ولايت عايدات به د هغه ولايت د بيت المال اداري ته جمع کيدل او د مصارفو د ورکولو څخه وروسته به څه شي چې پاتې شول نو هغه به يې مرکزي بيت المال (دارالخلافه) ته تحويلول .

حضرت عمر (رض) د بيت المال مال د ټولو خلکو حق ګانه او د بيت المال څخه ورته د عادي مسلمان په اندازه معاش مقررؤ. يو ځل ابو موسى اشعري (رض) د بيت المال اندازه واخيسته په بيت المال کې تنها يو درهم موجودؤ ابو موسى اشعري (رض) هغه درهم د حضرت عمر (رض) کوچني زوى ته ورکړ حضرت عمر (رض) له دې موضوع څخه خبرشو هغه درهم يې بيرته بيت المال ته حواله يا تحويل کړ او ابوموسى اشعري يې را وغوښته او ورته يې ويل افسوس چې تاته په مدينه کې د عمر (رض) اولادنه پرته بل څوك فقير په نظررانه غى . ته غواړې چې د قيامت په ورځ د ټول محمدي (ص) امت مطالبه او غوښتنه زما په غاړه وي .

همدا رنګه کله چې د شام د فتحى څخه وروسته د روم سره د مسلمانانو روابط ښه شول يوه دفعه د حضرت عمر(رض) بې بې د روم د قيصر ښځي ته يو څه د عطرو بوتلونه د تحفي په ډول وليږل ، هغي په مقابل کې د جواهراتو تحفي را وليږلي حضرت عمر (رض) په دې موضوع خبر شو .

نو خپلې بې بي ته يې وفرمايل : چې عطر خو ستا وو ليکن هغه قاصد چې دا عطر يې وړي وه هغه سر کاري سړى دي د هغه مصارف د مسلمانانو د بيت المال له خوا څخه تاديه کيږي نو په دې لحاظ يې د عطرو معاوضه ورکړه او نور ټول جواهرات يې بيت المال ته تحويل کړل .

حضرت عمر (رض) يوه ورځ په بازار کې يو چاغ اوښ وليد ورته معلومه شوه چې دا اوښ د عبدالله بن عمر (رض) دى نو له عبدالله څخه يې پوښتنه وکړه چې دا په څه شي دومره چاغ شوي دى .

عبدالله ورته وويل کله چې ما دا اوښ واخيسته د بيت المال څرځاى کې مى پريښود نو ځکه چاغ شويدى ، حضرت عمر (رض) وفرمايل : څرنګه چې دا اوښ په سرکاري څرځاى کې چاغ شوي د نو په دي سبب تاسي تنها د رأس المال مستحق ياستې . حضرت عمر (رض) يوه ورځ دبيت المال په اوښانو تيل موښل يوسړى وويل : دا کار په يو غلام باندي وکړه .

حضرت عمر (رض) وفرمايل : زمانه بل غټ غلام څوك کيداى شي؟ کوم شخص چې د مسلمانانو والي شي هغه د هغوى غلام هم وي .

حضرت عمر (رض) اسامه بن زيد ته ۴۰۰۰ درهمه او خپل زوى عبدالله ته يې ۳۰۰۰ درهمه معاش مقرر کړى وه . په دې حصه کې يو ځل عبدالله شکايت وکړ؟ حضرت عمر خپل زوى ته وويل : اسامه بن زيد له تا څخه په حضرت محمد (ص) ډير ګران وه او پلار يې هم ستا له پلاره حضرت محمد (ص) ته محبوب ؤ .



پیوسته به گزشته

آري از اهمیت و ارزش علم است که قرآن آن را سرمایه هنگفت (وخیرکثیر) نامیده است چنانچه که گوید : ((یؤتي الحکمة من یشاؤ من یؤت الحکمة فقد اوتی خیراً کثیراً)) و مایتذکر إلا او لو الالباب)) .

ترجمه : میدهد دانش هرگرا خواهد و هر که داده شد او را دانش پس هر ائینه داده شد نیکوی بسیار و پندپذیر نمی شود مگر خداوندان خود .(دهلوي) ، علامه قرطبي (رح) در پیرامون تفسیر آیه کریمه .

((أصل الحکمة ما یمتنع به من السفه و هو کل فعل قبیح وکذاالقران والعقل والفهم ، وکرر ذکرالحکمة ولم یضمر ها اعتناءأبهاو تنبیهاً علی شرفها و فضلها .

قال بعض الحکما من أعطی العلم والقران ینبغي ان یعرف نفسه ولایتواضع الاهل الدنیا لاجل دنیا هم فانما اعطی افضل ما اعطی اصحاب الدنیا لان الله تعالی سمی الدنیا متاعاً قلیلاً فقال : ((قل متاع الدنیا قلیل)) و سمی العلم والقران ((خیرا کثیرا))

(۱) البقره ۲۶۹

(۲) تفسیر قرطبي : ۲ / ۲۱۴

ترجمه : اصل وبنیاد و حکمت آنست که بتوسط ان انسان خود را از سفاهت باز دارد ان عبارت ازهر کار زشت و ناروا است .

به همین معنی است قرآن ، عقل و فهم که انسان را از مرتکب گردیدن فعل زشت باز میدارند لذا اصل حکمت می باشند)

بجهت اهتمام بشان حکمت و اگاهی دادن به شرافت ومرتبه بالای ان واژه (حکمت) را به شکل ضمیرنیا ورده و آن را دوباره ذکر نمود یعنی حکما گفته اند : کسي که علم و قران لازمي شود سزا وار است تا نفس خود بشناسد و به صاحبان ثروت واهل دنیا بخاطر دنیای شان فروتني و احترام نگذارد . چیزیکه باو داده شده بهتر است از آنچه که باهل دنیا داده شده است . خداوند متعال (ج) دنیا را سرمایه ای اندك معرفي نموده ، و اماعلم و قرآن را سرمایه و ثروت فراوان خوانده است . چطور دانش سزا وار این نباشد که درمیان همه چیز ها خیر کثیر نامیده شود در حالیکه همین دانش از جمله ویژه گی های انسانیت بوده که از دیگر موجودات اورا متمایز می سازد و به سبب آن پروردگار توانا فضل و برتري آدم ابوالبشر علیه السلام را بر مقدس ترین موجودات (ملائکه) نمایان ساخت تا آنکه به پیشگاهی حضرت آدم سرمخضوع و فروتني را فرودآورده و به او سجده تحیه و تعظیم نمودند .

هیچ غرابت ندارد که دانش انسان را به این مرتبه پر عظمت بکشاند زیرا دانش قویترین وسیله است که صاحبش را به نیکوی و تقوی که معیار کرامت وبزرگي انسان در نزد پروردگارش میباشد میرساند ((ان أکرمکم عندالله اتقاکم)) چون که انسان اندیشمند در همه پدیده های هستي واثار افقی و انفسي با تفکر و اندیشه اش قدرت و عظمت پروردگار حکیم و دانا را مشاهده نموده و به شکل اتوماتیك زمزمه ای ((ما خلقت هذا با طلاً)) به لب می آورد و قلبش اکنده از محبت و خشیت الهی گردیده که در نتیجه

سرتسلیم را در قبال پروردگار فرود آورده و همه دستوراتش را مو به موی به کار می بندد حق است که خدای دانا حیثیت و ترس الهی را بدانشمندان اختصاص دهد و گوید : «إنما یخشي الله من عباده العلماؤ»

ترجمه : جز این نیست که می ترسند از خدا عالمان از بند گان او. مفسرین درین مورد که چرا تنها علما و دانشمندان از خدا می ترسند گویند : علما اورا به حسب واقع شناخته اند. و هر اندازه معرفت و شناخت انسان به پروردگارش بیشتر باشد به همان اندازه حیثیت و خوف الهی زیاد تر حاصل میگردد پس خیلي بجا است که قرآن عظیم الشان برای اظهار برتري و اهمیت دانش به شکل زیرطرح نموده و از انان پاسخ جوی کند .

«هل یستوي الذین یعلمون والذین لایعلمون انما یتذکر اولو الالباب»

ترجمه : آیا برابر می شوند انانیکه میدانند و انانیکه نمیدانند جز این نیست که پند پذیر می شوند خداوند ان خرد(دهلوي) البته هر شخص ذی خرد و عاقل پاسخ داده و خواهد گفت : که نه نه هرگز هرگز ، هرگز ایندو باهم برابر نیستند قرآن به این بیان ملکوتي خویش به نحوی مرموز در افکار اندیشه ها تثبیت ساخته که علم ودانش چه برتري و عظمتي را دارد مفسرنامدار اسلام رازي در مورد آیه فوق گوید : «فیه تنبیه عظیم علی فضیلة العلم» درین آیه اگاهی بزرگي است در برتري دانش .

لیکن این برتري را افراد ذی خرد درك می کنند چنانچه امام حافظ ابن کثیر گوید : (انما یعلم الفرق بین هذا و هذا من له لب و هوالعقل ، جز این نیست که تفاوت را بین آن فرد دانشمند و آن (فرد نادان) کسي داند که امرز مغز یعني عقل باشد.

لذا دوري ندارد که خداوند ﷻ درمیان مؤمنین دانشمندان را جابز مقامات عالیتر ومراتب بلند تر گرداند چنانچه که گفته است : (یرفع الله الذین آمنو امنکم والذین أوتو العلم درجات) ترجمه : بلند کند حذر مرتبه هابرای انانیکه ایمان اورده اند از شما و انانیکه عطا کرده شده است ایشانرا علم دانیستم که خداوند ﷻ دربیان مرتبه و درجه مؤمنین علما را بیاد آوري مخصوص میگرداند بااینکه مومنین شامل آنان است این نوع تخصیص از نگاه قواعد علمي مزیت ویژه ای را برای خاص بحکم مورد نظر میدهد .

حضرت ابن مسعود در رابطه به آیه مذکور گوید : در این آیه خداوند ﷻ دانشمندان را ستایش نموده است ، وای مردم این آیه را درك کنید و شما را بطرف دانش ترغیب میدهد چونکه خداوند ﷻ میگوید : مؤمن دانشمند را به مراتب چند بر مومن نادان بر تري میدهد .

این بررسي کوتاهی بود در پیرامون برخي از آیات قراني که ارزش علم را افاده میدهد. اما احادیث نبوي متعلق به فضل و شرافت دانش و معرفت اینقدر زیاداست که ذکر نمودن پاره ای که بد سترس است بحث را بد را زا میکشاند به آوردن چند حدیث کفایت می شود .

عن ابي در داؤ قال : سمعت رسول الله صلعم یقول : من سلك طریقا یطلب فیه علماً سلك الله به طریقاًمن طوق الجنة وان الملائکة لتضع اجنحتها رضا لطالب العلم و ان العالم یستغفرله من فی السموات و من فی الارض والحیتان فی جوف الماؤ وان فضل العالم علی العابد کفضل القمر لیلة البدر علی سایرالکواکب و ان العلما ورثة الانبیاؤلم یورثو دیناراً ولا درهماً وانما ورثو العلم فمن اخذه اخذ بحظ وافر .

ترجمه : ابو در داؤ گوید : که پیامبر اسلام را شنیدم که میگفت : کسیکه بجهت طلب دانش راهی را درپیش گیرد خداوند (ج) او را توفیق میدهد که راه جنت را برود .

بدرستیکه فرشتگان هرائینه نهند باز و های خود را بجهت رضا مندي طالب علم و بدرستیکه هر که در آسمان است از ملائکه و هر که در زمین است از جن وانس و ملائکه راضي نیز و ماهیان درمیان آب برای عالم آمرزش میخواهند ، و بدرستیکه برتري عالم بر عابد همچو برتري ماه چهار دهم است بر باقي ستارگان ، بدرستیکه علماؤ وارثان پیغمبرانند ، بدرستیکه پیغمران ارث نگذاشته اند دینار و درهم را جز این نیست که علم را به ارث گذاشته اند پس کسی که گرفت علم را پس در حقیقت یلد یافت بهره ای کامل نایل گردیده است .

و همچنین مقام امر گار را بلند ساخته و میفرماید : ان الله و ملائکته واهل السموات والارض حتی النملة فی حجر ها حتی الحوت لیصلون علی معلم الناس الخیر .

ادامه دارد

خلافت

میاشتنی

دیني ، علمي ، سیاسي او ټولنیزه خپرونه

آیا آمریکا یوه بله غلطی کوی؟

د جنوبی اومرکزی آسیا په هکله دسپنی مانی د سیاست بدلیدونکی ارخونه

دننګرهار ولایت د امارتی ادارو رسپور تاژ

تروریست کیست؟

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَهُمْ فِيْ رَوْضَةٍ يُّحْبَرُوْنَ ﴿۱۵﴾

سورة الروم

پس هر هغه (کسان) چه ایمان ئی راوړی دی او کړی یی دی ښه (عملونه) پس دوی به په روضه (د جنت) کښی خوشاله شی (چه له ډیری خوشالی به ئی مخونه تجلی کوی)

تفسیر: یعنی په انعام و اِکرام سره به پری رحمت و شی. اوله هر راز لذت او خوښی ځنی به مستفید شی دغه د نیکانو د هستوګنی ځای دی. له دی نه وروسته د بدانو ځای هم راښیی، مطلب ئی دا چه د دوارو په مینځ کښی به داسی تفریق اوبیلتون وشی چه له هغه ځنی به بل زیات کوم بیلتون امکان ونه لری.

په لمړی مخ کی
امریکائی کروزتوغندی
اونګرهار ولایت د شریعت ږغ
رادیو ودانی او د لمړی ځل قول اردو مسجد
دجلال آباد ښار دمستوفیت چوک

خلافت میاشتنی

د افغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

۱۴۲۲ هـ ق کال د ربیع الاول میاشت
د ۱۳۸۰ هـ لمریز کال د غبرګولي میاشت

لړلیک

		مخ
سرمقاله	اداره	۲
سیرت نبوي	محمد وزیر حامد	۴
بیت المال	محمداغا ضیا	۷
مفهوم علم، اهمیت	مولوی عبدالرحمن معتصمي	۸
د جنوبي او مرکزي اسیا په	سور غر	۱۰
تروریست کیست ؟	محمد عزیز عمري	۱۳
د اسلام د ترقي او غلیمانو	مولوي مطلوب	۱۴
سیر ژورنالیزم	عبدالله	۱۸
له کابله تر یرموکه	کاکازاده	۲۰
ګلورینې پانې	(شعرونه)	۲۴
خلف د سلفو پر	سردارمحمد شکیب	۲۶
د وخت ارزښت او ساتنه	محمدوزیرحامد	۲۹
بهر میشته افغانانو ته د		۳۲
ایا امریکا یوه بله غلطي کوي ؟	سورغرسلیمانخیل	۳۳
راپورتاژ	اداره	۳۷
خبرهاو ګزارش ها	اداره	۴۲

خلافت مجله

د تاسیس کال : د وري میاشت
۱۳۷۵ لمریز کال
پرله پسي شپږ ویشتمه ګڼه
د شپږم کال دریمه ګڼه

اداره

مسؤل مدیر: محمد وزیر(حامد)
کتونکي ډله
۱ : ملا عبدالحی مطمئن
۲ : محمد الیاس وحدت
۳ : محب الله اسحاقي
۴ : شیراحمد (حیدر)

پته

د کندهار د اطلاعاتو او کلتور ریاست
د مجلې دفتر
تلیفون ، فکس : ۲۱۰۴۴۰- ۳- ۹۳ +
۸۳۷۷۰۷ -۸۱ -۹۲ + په پاکستان کې
پوست بکس لمبر (۱) چمن

کلنی ګډون

په کندهار کې ۱۵۰۰۰۰ افغانی
په نورو ولایتو کې ۲۰۰۰۰۰
افغانی په پاکستان کې ۲۵۰ کلداري
په لیري هیوادونو کې : ۷۰ امریکائی
ډالره د یوې ګڼې بیه : ۲۰۰۰۰
افغانی یا ۲۰ پاکستانی کلداري
زده کونکي ته د تصدیق په لرلو سره
په نیمه بیه ورکول کیږي

د مجلې د ترلاسه کولو ځایونه : افغانستان
کندهار د اطلاعاتو کلتور ریاست د توزیع څانګه ، کابل د اطلاعاتو کلتور وزارت د توزیع ریاست ، هرات د اطلاعاتو او کلتورریاست د توزیع مدیریت ، بلخ : د مزارشریف ښار د اطلاعاتو او کلتور ریاست ، ننګرهار : د اطلاعاتو او کلتور ریاست د توزیع مدیریت ، قندوز : د اطلاعاتو او کلتور ریاست ، غزني : د اطلاعاتو او کلتور ریاست ، خوست : د اطلاعاتو او کلتور ریاست ، هلمند : د اطلاعاتو او کلتور ریاست . بهرني هیوادونه : اسلام اباد افغان سفارت ، پیښور: افغان قونسلګري او دانش کتاب پلورنځی ، په کوټه کې صحاف کتاب پلورنځی. او کابل کتاب پلورنځی امریکا نیویارک : د اسلامي امارت نمایندګي ، جرمني : داسلامي امارت نمایندګي . سعودي عرب : جده د افغانستان اسلامي امارت قونسلګري په متحده امارتو د اوبو ظبی په ښار کې افغان سفارت .

تخنیکي چاري : د الامارت کمپیوتر اداره ، کمپوزر : نوراغا (هاشمي) ، چاپ : د کندهار امارتي مطبعه